شریعت

اوونیزه

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحریك نشراتي ارگان

لومړی کال | څلور څلويښتمه گڼه | دوشنبه د۱۳۷۵ هـ ش کال دعقرب دمیاشتي (۱٤) | د۱۹۹٦میلادي کال نومبر (٤) | د۱٤۱۷هـ ق کال جمادي الثاني (۲۳)

په جگړه کی ثابت قدم اوسئ!

له حضرت عبدالله بن ابي اوفي رضی الله عنه څخه روایت دی چي دالله رسول ﷺ فرمایلي دي: « اي خلکو! له دښمن سره دمخامخ کیدلو(نښتي)تمنا مه کوی. له خداي «جل جلاله» څخه عافیت وغواړي. خو کله چي ورسره مخامخ شوي(جگړه ونښته) نو صبر کوي (ثابت قدم اوسي) په دې پوه شي چي جنت دتورو ترسیوري لاندي دی.»

(بخاري، مسلم)

په مشکلاتو صبر وکړی اوتقوی کوی

لوي خداي «جل جلاله» فرمایلي دي: اي هغو کسانو چي ایمان یې راوړي دي (اي مؤمنانو!)صبر کوئ (په طاعت، مصیبت اوله معصیته) اوټینگ اوسئ: په صبر (له دښمن سره په مقابله کښي) اومحکم اوسئ! (په اسلامي سرحدونوکي): او ویریږي له الله «جل جلاله» څخه ددې دپاره چي په مراد ورسیږي (بریالي شئ!).

(آل عمران - ۲۰۰:)

سرپرست وزارت اطلاعات وکلتور طي يك کنفرانس مطبوعاتي اظهار داشتند

ما اهداف انقلاب اسلامي خود را تعقیب میکنیم

سرپرست وزارت اطلاعات وکلتور طي يك کنفرانس مطبوعاتي اظهار داشتند /ما اهداف انقلاب اسلامي خود را تعقیب میکنم هیچ نوع فشار سیاسي و نظامي نمي تواند ما را از راه اصلی دفاع از اهداف انقلاب اسلامي برگرداند. مطلب فوق را محترم امیر خان متقي سرپرست وزارت اطلاعات و کلتور طي يك کنفرانس مطبوعاتي در جمیع خبرنگاران داخلي و خارجي اظهار داشتند.

محترم متقي طي پاسخ به ژورنالستان پیرامون سیاست داخلي و خارجي دولت اسلامي افغانستان تحت رهبري عالیقدر محترم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد روشني انداخته اضافه نمودند: تلاش های مذبوحانه، دشمنان انقلاب اسلامي توأم با شکست مواجه بوده الحمد الله در کابل و اکثریت ولایات افغانستان امنیت سرتاسری و مطمئن تأمین گردیده است.

در افغانستان نظام جدید بانکي تشکیل میگردد

فیصله منع نوت هاي دوستم صادر گردید

کابل: دولت اسلامي افغانستان غرض بهبود وتقویه معیشت مردم وارتقاي ارزش افغاني اقدامات لازم را آغاز کرده است.

فیصله جلو گیري از پول جعلي دوستم از سلسله همین اقدامات است به اساس اخبار واصله رئیس (دافغانستان بانك) چندین بار به نقاط مختلف سفر کرده و جهت بهبود وضع معیشتي مردم وتنظیم امور با بحران مسایل مالي واقتصادي مشوره کرده است.

طبق اطلاعات رسیده مسأله تشکیل نظام جدید بانکي تحت غور قرار گرفته وفیصله منع کردن نوت هاي دوستم صادر گردیده است.

هم چنان فیصله به عمل امده که پول افغاني جدید بعد ازین چاپ نگردد ودر صورت ضرورت در بدل نرخ تعین شده دالر از بازار به خریداري پول صادرت گردد.

هکذا پول هاي افغانیکه در مارکیت گردش مینماید به شکل سابق گردش خواهد کرد وپول جدید افغاني به کشور آورده نخواهد شد.

با گردش پول افغاني فعلي سیستم بانکي تقویه وارزش افغاني بلند خواهد شد.

گفته میشود ارزش افغاني تا کنون به این علت پائین امده که پول بي حساب وگزاف مارکیت سر را زیر میگردید.

زمانیکه پول جدید چاپ نگردد وپر پول جعلي دوستم لغو وجمع گردد در نتیجه قیمت افغاني بلند خواهد رفت.

حملات بزرگ دشمن در شمال کابل ناکام گردید

دره٫ نور از لوث مخالفین پاك شد

طبق اطلاعات رسیده جنگ نیروهاي دولت اسلامي با افراد اتحاد فراریون در شمال کابل جریان دارد. افراد اتحاد فراریون در شمال کابل جهت کنترول دو دره حمله بزرگ آغاز کرده است.

در قسمت شمال شرق بالاي سرك هاي نو وقدیم که به شهر کابل منتهي میکردد در عین زمان حمله شروع شده بود که از طرف مجاهدین دولت اسلامي تا کام وخنثي گردید.

(ص ٤)

دشلتان دره او ورځيرمه لوړي سيمي هم ونيول شوي

په دره٫ نورکي بیدا کړي شوي ستونزي له منځه لاړي

دافغان اسلامي آژانس دخبر سره سم اوس ددره٫ نور نه علاوه دشلتان دره هم په بشپړه توگه دطالبانو په کنترول کي ده.

دننگرهار ولایت مرستیال په یوه مرکه کي ویلي دي: چي طالبانو دشلتان دري سره دسوري او دبوگن غرونه هم تر ...

(٤) مخ

ددوستم يوه جت جنگي الوتکه راوغورځول شوه

دافغانستان اسلامي دولت هوايي قواوو دثیري پنجشنبي په ورځ ددوستم يوه جت الوتکه چي په کابل سپار بي بمباري کوله درهبري شوو راکټونو په وسیله دکوه دامن په غرونو کي وغورځوله.

دغه خبر کابل راډیو هم ...

(٤) مخ

دکابل شریعت غږ راډیو پنځه سوه کیلو واټه دستگاه فعاله او په خپرونو یې پیل وکړ

دغه دستگاه له تیرو څلورو کلونو څخه تر پرونه پورې غیر فعاله وه

تر دي وروسته به دکابل شریعت غږ راډیو خپرونې په ټولو گاونډیو هیوادونو او دنړۍ په نورو سیمو کي په اساني سره اوریدل کیږي

دکابل شریعت غږ راډیو پنځه سوه کیلو واټه دستگاه پرون دیکشنبي په ورځ فعاله شوه او خپرونې یې پیل کړې. دغه دستگاه چي له څلورو کلونو څخه ... رابدېخوا غیر فعاله وه دپخواني ړنگې شوي اداري دمشر استاد رباني له ...

(٤) مخ

دطالبانو له اسلامي تحریك سره دمرستي له امله به په شمال کي ستر پاڅون وشي

په یوه لویه جگړه کي ددښمن دملا تیرمات شو

ددوستم په خلاف دجهاد اعلان وشو

ملا آمیر خان «متقي»

دافغانستان داطلاعاتو اوکلتور وزارت سرپرست محترم مولوي أمیر خان متقي دتیري چار شنبي په ورځ وویل چي دکابل ولایت په شمال کي داحمد شاه مسعود ځواکونو پر ... تعرض په شا وشمول شو او زیات ځاني او مالي زیان ورورسید.

د... وویل په دغه حمله کي ... سل تنه وژل شوي او څلور سوه ...

محترم متقي يوه مطبوعاتي کنفرانس ته وویل: دمسعود افرادو چي دبگرام ... کابل کوټه خانه دثیري سه شنبي په ورځ ... کړي وه له ناکامي سره مخامخ شوه ... کړه په دي جگړه کي ددښمن دملاتیرمات شوي او په آینده کي به داسلامي حکومت خلاف دراپورته کیدو جرئت ونه کړي.

(٤) مخ

برخي از علماي کشور صفحات شمال با محترم ملا محمد حسن ملاقات و گفتگو نمودند

علمأ مناطق شمالي کشور تحت ریاست محترم مولوي احمد مزاري عصر روز چارشنبه با محترم ملا محمد حسن آخند عضو و کفیل شوراي سرپرست دولت اسلامي افغانستان در قصر نمبر (۱) دیدار و گفتگو نمودند.

در این دیدار محترم مولوي احمد مزاري به نمایندگي از مناطق متذکره بمناسبت ایجاد و تأسیس دولت اسلامي افغانستان تبریکات خود را ابراز داشته هر نوع آمادگي مردم مسلمان مناطق حصص شمالي کشور را بطور خستگي ناپذیر با ایمان کامل در جهت از بین بردن آخرین لانه هاي شر و ...

(ص ٤)

مولوي عبدالعزیز دهرات په جامع جوماتکي دلمانځه په وخت کي وویل:

دهرات مسلمان او مجاهد ولس چي په یوه ورځ ٤۲ زره شهیدان ورکړل اوس هم دملحدینو او مفسدینو په وړاندې دې قرباني ته تیار دی

دهرات مسلمان او مجاهد ولس چي په یوه ورځ ٤۲ زره شهیدان ورکړل اوس هم دملحدینو او مفسدینو په وړاندي دي قرباني ته تیار دي.

له هرات څخه دشریعت خبریال خبر راکوي چي دروان هجري لمریز کال دمیزان دمیاشتي په ۱۱ مه نیټه دهرات په جامع جومات ...

(٤) مخ

اسلم بیگ په مطبوعاتي کنفرانس کي:

دطالبانو راتلل دافغان اولس ضرورت و

خلك له جنگونو او ظلمونو څخه په تنگ شوي وو

دپاکستان پخواني لوي درستیز او دعوامي قیادت مشر میرزا اسلم بیگ په یوه مطبوعاتي کنفرانس کي ویلي دي چي دطالبانو راتلل دافغانستان دعوامو خلکو ضرورت و ځکه چي افغان اولس دجنگونو، زیاتیو او تیریونه په تنگ شوي وو.

میرزا اسلم بیگ زیاته کړیده، که دافغانستان خلك دخپلو مسألو حل ته پریښودل شي نو افغان مسأله حل کیداي شي خو روس ایران او نورو دافغانستان حالات پخپلو مداخلو خراب کړیدي او اوس لا پکي هند هم دځان ځایولو کوشښونه کوي.

داسلامي نظام په ټینگښت کي د هر ډول مرستو وعده وشوه

له ملا محمد حسن آخند سره قومي مشرانو او دادارو رئیسانو وکتل

په کابل کي داسلامي دولت دشیر.کسیزي شورا کفیل محترم ملا محمد حسن آخند دشنبي په ورځ په خپل استوگنځي کي دمشري محکمي له رئیس ، کابل ښاروال او داحمد زیو دقوم مشرانو سره وکتل او دهیواد په روانو سیاسي او پوځي حالاتو یې خبري وکړي.

کابل راډیو وویل: ددي کسو په لړکي ملامحمد حسن آخند په همدي ورځ دمولوي ارسلا رحماني په مشري دجهادي قوماندانانو له جرگې سره وکتل. دغه جرگه دپکتیکا له ولایت څخه راغلي وه.

په دي کسته کي په هیواد کي داسلامي نظام دټینګښت په کار کي محترم ملا محمد حسن آخند له دغو ډول همکاریو وعده ورکړي شوه. خبریال زیاتوي دکښتي به وخت کي قوماندان نعیم کوچي هم حاضر وو.

په غزني کي دافغانستان داسلامي دولت په ملا تړ مظاهره وشوه

په غزني ولایت کي دافغانستان داسلامي دولت په ملاتړ لویه مظاهره وشوه، له غزني ولایت څخه زموږ خبریال خبر راکوي چي تیره ورځ دغزني په ښار کي دافغانستان داسلامي دولت په ملاتړ په یوه مظاهره کي په زرگونو خلکو گډون کړي وو . مظاهره ...

(٤) مخ

داحمد زیو دقام مشرانو دافغانستان له اسلامي دولت سره خپل بشپر ملاتړ اعلان کړ

داحمد زیو دقام مشرانو دافغانستان له اسلامي دولت سره خپل بشپړ ملاتړ اعلان کړ.

زموږ خبریال له کابل څخه خبر راکوي چي دتلي دمیاشتي په ۱۲ مه نیټه داحمد زیو دقام مشرانو له پنځه سوه کسانو سره په کابل کښي دافغانستان داسلامي دولت له مشرانو سره وکتل او خپلو مشرانو ته یې دپوره مرستي وعده ورکړه.

خبریال زیاتوي داحمد زیو دقام په مشرانو کي دغه کسان شامل و: حاجي خان ولي عیسی خیل، حاجي توریاز خان تغر، حاجي دوا جان بیر، حاجي ظاهر خان جبار خیل، او ملك نصر الله خان عاشت خیل

په هیئت فني از میدانهاي هوایي کندهار، هرات و ننگرهار دیدن نمودند

محترم انجینر سرار محمد علي معین تخنیکي وزارت هوانوردي و توریزم در رأس یك هیئت از تأسیسات میدان هوایي کندهار، هرات و جلال آباد بازدید بعمل آوردند. در ترکیب این هیئت محترم الحاج محمد گردیوال رئیس د آریانا افغان هوایي شرکت، محترم عبدالقیوم بشریار رئیس عملیات هوانوردي و محترم لعل محمد زرمل معاون ریاست هواشناسي شامل بوده. هیئت متذکره ضمن بازدید از تأسیسات هوانوردي از ولایات در رابطه به بهبود وضع پرواز ها به مسؤلین مربوطه هدایت لازم ارائه داشتند. در حال حاضر میدانهاي هوایي بین المللي کابل، هرات، کندهار و جلال آباد آماده، پرواز هاي ملي و بین المللي مي باشند.

مردم پکتیا با دولت اسلامي همکاري هاي همه جانبه را وعده دادند

سرپرست وزارت اطلاعات وکلتور محترم ملا امیر خان متقي همراي با تعدادي از قوماندانان، علما، و ریش سفیدان ولسوالي هاي ولایت پکتیا در دفتر کار شان بازید و ملاقات بعمل آوردند.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ...

(ص ٤)

بشري حقونه او دملگرو ملتونو ... (۲)مخ

دشریعت تبصره (۲)مخ

مفهوم عبادات در اسلام (۳)مخ

استاد (!) داهریمن ... (۲)مخ

دادب ملغلري (۳)مخ

قضاوت وکړي دا بنه دي او... (۳)مخ

په افغانستان کي داسلامي بیوونې ... (۳)مخ

سرمقاله

دطالبانو اسلامي تحریك دقدرت په انحصار عقیده نه لري

دادي یوځل بیا زموږ اسلامي هیواد له یوه تاریخي ازموینښت سره مخامخ دي، دادي یوځل بیا زموږ په ویارلي هیواد کي دپردیو په مستقیمه قوماندنه او تیغ په تیغه مرسته دملت دتباهي لپاره هلي ځلي رواني دي او دادي یوځل بیا زموږ دمسلمانانو او هیواد پالو قوتونو پر خلاف یو اسلامي ضد اوملي ضد سنگر جوړ شوي اوغواړي چي وران او ویجار وطن مو لاپسي وران او ویجاړ کړي.

دتاریخ پاڼي شاهد دي، هر وخت چي زموږ په تاریخي هیواد افغانستان کي داسلام پر قوي سنگر جوړ شوي او ټول ملي قوتونه سره یو شوي دي، نو بهرنیو ښکیلاک کګرو او کورنیو گوډاگیانو لاس سره یو کړي او دغه ملي اسلامي سنگر دکمزوري کولو لپاره یې ناوړه هلي ځلي پیل کړي دي، خو دتاریخي شواهدو له مخي هر ځل داسي ځناس ماتوونکي گوزارونه ورکړل شوي چي بیا یې دي خوانه کاږه هم نه دي کتلي.

نه ایراني گر کین څخه راتیولي تر شاه شجاع او بیا تر ببرك کارمل پوري زموږ مسلمان او مجاهد ملت دیوليږ زیاتو بهرنیو تاړاکونو او کورنیو گډوډیو شاهد دي، خو هر گوډاگي له خپل باداره سره له داسي سر نوشت سره مخامخ شوي دي چي

پاتې په (۲) مخ

دافغنستان اسلامي دولت لکه څنگه چې دنورو په کورنیو چارو کې لاس نه وهي دغه شان نورو ته هم اجازه نه ورکوي چې په کورنیو چارو کې لاس ووهي

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریك
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترکتنی لاندي
مسئول مدیر : مولوی احمد جان
تیلیفون : ۸٤۰۳۷۸
آدرس : په پیښور کي دطالبانو داسلامي تحریك نمائندګي
دیوي ګنې بیه : په هیواد کي (۵۰۰) افغانۍ
: په پاکستان کی (۳) کلداری

سرمقاله ...

بیایي چیري دتیکاو ځاي هم نه وي موندلي او ببرك كارمل خولا تر اوسه لا لهانده ګرځي، خودپښي دتینګید ځاي نه شي پیدا کولاي.

اوس چي بو حل بیا زمور په اسلامي هیواد کی دظلم اوفساد دله منځه وړلو او دبهرنیو لاسونو ولنهولو په غرض دمسلمان ملت له منځ څخه دطالبانو اسلامي تحریك را پورته شوي او په ډیره کمه موده کی یي دخپل مسلمان او مجاهد ملت په بشپړ ملاتړ دهیواد زیاتره سیمي دظلم او فساد له عاملینوڅخه پاکي کړي دي، نو زمور ددین او وطن دښمنان بیا هم را پاریدلي او غواړي دخپلو پریخو په واسطه دغه ملي اسلامي پاحون له ماتې سره مخامخ کړي، خو دوي لکه چي دافغانستان تاریخ نه دي مطالعه کړي او په دې نه دي خبر چي په دغو پیچومو او دروکي حومره سکیلا کي ککري ماتي شوي ! حومره بهرني ګوداګیان پکي خاوری شوي دي.

هند او ایران باید په دې پو شي چي په دي غروتو او دروکي انګریزي لښکري ماتي شوي دي، دلته دپخواني شوروي اتحاد جنګي ماشین له کاره لویدلي او لسکري یي څو غوروته له داسي شو میندلي ماتي سره مخامخ شوي د چي په تاریخ کی یي حوك مثال نه شو ښودلاي، توهندوان اوایرانیان به په کوم قوت او په کوم سورال او روحیه دمیرنیو افغانانو دمقابلي توان ولري، پداسي حال کی چي ددوي تاریخونه وخت په وخت دافغانانو له ویاړ منو کار نامو ډك دي.

افغانان دغه ترلو لاس وهني او دغه ډولي مذبوحانه هلي ځلي په سوړه سینه تعقیبوي، افغانان خپل دوست او دښمن ښه پیژني او افغانان لکه څنګه چي ددوستي په چل پوهیري دغه شان ددښمني لار چاري هم ورته معلومي دي، نو چي بوحل بي حوك ددښمن په توګه وپیژاند بیا یي تر هغه پوري نه پریږدي تر څو یي چي ددښمني څخه بیزاره کړي نه وي، چي دا دي نن بیا هم په جنګونو کی رالوي شوي افغانان له دغه شان یو ستر ازموینت سره مخامخ دي او دا هغه تاریخي ازموینښت دي چي که خداي (ج) کول یو ځل بیا به خپل دښمنان له داسي سر نوشت سره مخامخ کړي چي تر ابده به یي په یاد وي.

افغانستان اسلامي دولت په داسي حال کي چي دنړي له ټولوهیوادونو په تیره بیا ګاوندیو هیوادونو سر دښوا ړیکو غوښتونکي دي او دیو او بل په کورنیو چارو کی دلاس نه وهلو په بر تسر عقیده لري له هند، ایران او روس څخه بوځل بیا په ټینګه غواړي چي زمونږ په کورنیو چاروکی له لاس وهني څخه ډډه وکړي، افغانان دي پریږدي چي خپل مشکلات پخپله حل کړي ځکه افغانان تر بل هر چا دخپلو مشکلاتو دحل په لارو چارو ښه پوهیږي.

دافغانستان اسلامي دولت دقرت په انحصار عقیده نه لري بلکي په زور دقدرت له نیولو سره سخت مخالف دي او هیچانه به اجازه ور نه کړي چي دوسلي په زور یوځل بیا قدرت ته ورسیږي او په دي توګه دوطن دورانولو پروسه جار ي وساتي، اسلامي دولت پر خپل مسلمان ملت باندي دوسلي په زور حکومت کول نه غواړي او نه به بل چاته ددي حق ورکړي چي دغه شان ارمان ته ورسیږي، مور بیا هم دلوي او مهربان خداي (ج) په مرسته ایمان لرو او انشاء الله ټول غیر اسلامي او ملي ضد قوتونه به له غوحي ماتي سره مخامخ کیږي.

دملګرو ملتونو مؤسسي ته یوه تنقیدي کتنه

بشري حقونه او دملګرو ملتونو دوه مخي

مولوي عبدالحکیم «مجاهد»

پنځه لسمه برخه

٥- په الجزائر کي دفرانسي مداخلت او بشري حقونو تباهي

الجزائر په ۱۸۳۰م کال کي فرانسي له عثماني خلافت څخه ونیو او ترخپلي ولکي لاندي یي راوست، خو الجزائر غیر تنو او با ایمانه مسلمانانو دفرانسي داستعمار په خلاف خپل جهاد پیل کړ او په ۱۸۳۲م کال کي دالجزائر ټولو قومونو سید عبدالقادر دجهاد دامیر په توګه وټاکه چي په ډیره میړانه دفرانسویانو په خلاف وجنګیدل. په ۱۸٤٤م کال سید عبدالقادر دفرانسویانو په مقابل کي له ماتي نه وروسته سراکش ته ولاړ او په ۱۸٤۷م کال کي یي سید عبدالقادر ونیو او له خپلي کورني سره یي په فرانسه کي بندي کړ.

وروسته له دي چي فرانسویانو یو شمیر اروپایان دالجزائر په شمال کي په غیر قانوني توګه میشته کړل په ۱۸٦٤م کال کي الجزائر دفرانسي یو ولایت وګرزا وو، او دهغه ځاي خلك یي له خپلو ځمکو څخه وشړل او ځمکي یي اروپایانو ته وسپارلي دکرهي ټولي حاصل خیزه ځمکي یي له عربانو څخه په زور واخستي او اروپایان یي وریالدي میشته کړل. فرانسویانو غوښتل چي الجزائر په فرانسوي کلتورکي جذب کړي په مذهبي لحاظ یي یا خو یي بي دینه کړي عربي ژبه یي غیر رسمي وګرزوله او له معارف نه یي وایستله عالي تحصیلات یي په فرانسوي ژبه باندي لازمي کړل.

دالجزائر په مسلمانانو باندي فرانسویانو وظلم او زور ټولي لاري چاري عملي کړي خو ددوي دآزادي جذبه یي سره نکړايشوه او یوسل او دوه دیرش کاله یي دفرانسویانو پر خلاف جهاد وکړ چي نږدي دوه میلیونه شهیدان یي دخداي په لیاره کي ورکړل او په ۱۹٦۲م کال کي ددغو شهیدانو دوینو په برکت سره الجزائر ازاد شو خود داسلامي جهاد ددو وه میلیونو شهیدانو دوینو ثمره دمسلمانانو په ځاي سوسیالستانو تر لاسه کړه او احمد بن بلا یي دلومړي جمهور رئیس په توګه وټاکه چي هغه بیا په ۱۹٦٥م کال کي دیوي کودتا په ترځ کي له ریاست څخه لري کړایشو او حواري بو مدین دجمهور رئیس په توګه قدرت تر لاسه کړ او احمد بن بلا یي بندي کړ بومدین په هیواد کي دسوسلست ګوند سیطره ټینګه کړه او له شوروي اتحاد سره یي خپلي اړیکي مضبوطي کړي، مسلمانان یي له قدرت څخه لري وساتل او په دوي باندي یي ډول ډول ظلمونه پیل کړل.

په ۱۹۷۹م کال کي بومدین مړ شو او په ځاي یي یو عسکري صاحب منصب شاذلي بن جدید قدرت تر لاسه کړ. شاذلي احمد بن بلا او دهغه ملګري له بند څخه خلاص کړل، خو خپلي اسلام ضد او الحادي پالیسي ته یي دوام ورکړ.

دجهاد په نتیجه کي که څه هم دفرانسي فوځونه په ظاهره په ۱۹٦۲م کي له الجزائر څخه ووتل او دالجزائر آزادي یي اعلان کړه خو په عملي توګه یي قدرت خپلو فرانسوي زوزل شویو ګوداګیانو ته وسپاره له دي کبله ده چي په الجزائر کي دولتي ګوند ته ملك دفرانسي ګوند وایي، خو ددوي په مقابل کي هم مسلمانانو خپلي مبارزي ته دوام ورکړ او په ریاو شهیدان یي دمو سیالست استبداد په مقابل کي وړاندي کړل. دالجزائر مبارزو اومجاهدو مسلمانانو په هیواد کي داسلامي شریعت دپلي کیدلو دپاره په پاکستانو باندي فشارونه راوړل خو مسلمانانوده اسلامي نجات جبهي ته په رسمي توګه دفعالیت اجازه ورکړي، هغه وو چي داسلامي نجات جبهي مشول او دغه ګوند ته یي دفروري په ۲۰، ۱۹۸۸م کال کي رسماً دسیاسي فعالیت اجازه ورکړه.

داسلامي نجات جبهي (ISF) په ډیره لږه موده کی ځان په سیاسي ډګر ښه منظم کړ او د ۱۹۹۰م کال په ولایتي او ښاروالیو ټاکنوکی له ۱٥۳۹ چرکیو څخه ۸۳٥ چرکي ترلاسه کړي په داسي حال کي چي (ISF) له سختو مالي مشکلاتو سره مخامخ و او واکمن ګوند (دهیواد دآزادي جبهي) بي اندازي مالي امکانات دټاکنو دګټلو دپاره په کار اچولي وو.

کله چي دالجزائر سیکولر الحادي حکومت ته څرګنده شوه چي داسلام نجات جبهي سره دالجزائر دمسلمانانو پیځنده ډیري ملګري دي،نو دپارلماني انتخاباتو دنه کولو دپاره یي ډول ډول بهانې وړاندي کولي، هغه وو چي داسلامي نجات جبهي با ایمانه کارکوونکو په ارامه مظاهرو باندي لاس پوري کړ اوحکومت وروسته له دي چي دانتخاباتو په قانون کی یي دځان په ګټه په غیر قانوني توګه بدلون ته راوستل، انتخابات یي په دوو مرحلو باندي وویشل؛ لومړۍمرحله ددسامبر لومړۍنیټه ۱۹۹۱م کال او دوهمه مرحله دجنوري ۱٦، ۱۹۹۲م کال وټاکل شوه.

دانتخاباتو په لومړۍمرحله کي داسلامي نجات جبهي له ۲۳۰ چرکیو څخه ۱۸۸ چوکي ترلاسه کړي او دوهمي مرحلي په انتخاباتو کي دشواهدو څخه ترګنده شوه چي داسلامي نجات دجبهي دپریکنده اکثریت دګټلوخبره یقیني وه، خو دالجزائر سکولر حکومت دفرانسي په لومړنیو دانتخاباتو ددوهمي مرحلي څخه وښوله او دالجزائر فوځ جمهور رئیس شاذلي بن جدید استعفی ته مجبوره کړ او انتخابات یي لغوه اعلان کړل.

دالجزائر سیکولر الحادي حکومت دفرانسي په قومانده داسلامي نجات دجبهي مشران په دي ګناه بندیخانو ته واچول چي په ولایتي،ښاروالیو او وپارلماني ټاکنو کي یي دجمهوري عمل له مخي اکثریت ترلاسه کړي و. دالجزائر واکمنو داسلامي نجات دجبهي ۳۰ زره کارکوونکي په بندیخانو کي واچول چي اوس پسه هره اونیهږ کې نږدي زرنشه الجزائري دپولیس له لاسه په وینوکي لړل کیږي.

دفرانسي حکومت بوه کومیټه جوړه کړه چي دفرانسي دصدر اعظم تر مستقیمي لارښووني لاندي په الجزائر کي داسلامي نجات دخپلو دپروګرامونو دجوړولو کار په غاړه لري. دالجزائر دفوځ مشرمحمد لماري اعلان وکړ چي دوي به داسلامي نجات دجبهي دکارکوونکو دتباه کولو دپاره دالجزائر دځنګلونو هري ونی، هري پاڼي او هري سنې ته اور واچوي.

دالجزائر حکومت داسلامي نجات ددري زره کارکوونکو په بوه مظاهره باندي ددي ګناه له کبله ګولۍ وچلولي چي هغوي د ډډې په ځاي داسلام غوښتنه کوله. اوداکار یي دفرانسي دحکومت دخوشحاله کولو دپاره تر سره کړ.

دفرانسي حکومت دمسلمانانو دوژلو دپاره دالجزائر حکومت ته هر ډول وسلي ورکړي دي. چي په هغو کي یو ډول هلي کاپټر دي چي دشپي په مهال حمله کولائشي او دمخالفینو دپلټني کارکوي. په دي برسیره دفرانسي حکومت ۱٥۰۰ کوماندو عسکر الجزائر ته ورولیږل چي له هغو سره روزل شوي دتالاشي سپي، دبرق ازغن تاروته، اودجاسوسي نور وسائل موجود دي. او له دي نه هم وبرووتکي خبره دا ده چي دیوه زیوت سره سم دفرانسي حکومت دالجزائر په ځنګلونو کي دېټ شویومسلمانانو دوژلو دپاره کیمیاوي غاز هم لیږلي دي.

دفرانسي حکومت خپل دغو اعمالوته پواځي ددغه ناروا توریه لګولو سره جواز ورکوي چي داسلامي نجات جبهه په اروپا کي دداراجوئي دپاره کار کوي.

دملګرو ملتونو مؤسسه چي ځان دملګرو ملتونو دمنشور دبین المللي قانون او بشري حقونو ساتونکي بولي تر اوسه یي په الجزائر کي خپله دنده نه ده په ځاي کړي چي احتجاج وکړي او ووایي:

- دالجزائر موجوده حکومت غیر قانوني فوځي دیکتاتوریست دي چي دعامو ټاکنو په لغوه کولو یي په زوره په قدرت خپه اچولي ده.

- دفرانسي حکومت په غیر قانوني توګه دالجزائر په کورنیو چارو کي مداخلت کوي او دمسلمانانو دوژلو، بندي کولو، او له بشري بشهیزو آزاد یو څخه دهغوي دمحرومولو دپاره دالجزائر فوځي استبدادي حکومت ته هر ډول فوځي او مالي مرستي ورکوي.

- دالجزائر غیر قانوني حکومت داسلامي نجات دجبهي په زرها وو غړي په شهادت ورسول او له ۳۰ زره څخه زیات یي دمرکزي قیادت سره په بندیخانو کي بندیان کړي دي چي دا دبشري حقونو او دانسان دبنیادي حقونو او آزادیو په خلاف یو مجرمانه عمل دي.

- دالجزائر حکومت په دغو ظلمونو باندي هم اکتفا ونکړه او اوس یي داسلامي نجات دجبهي په سیاسي فعالیتونو او په عامو انتخاباتو کي په برخه اخستلو باندي هم بندیز ولګاوه چي دا کار ددیموکراسۍپه خلاف دبشري حقونو په ضد غیر انساني عمل دي.

- ملګري ملتونه او غربي هیوادونه چي په افغانستان کي دجنګي حالاتو په وخت کي دډیموکراسۍ، بشري حقونو، او دانسان دبنسټیزو آزادیو غوښتنه کوي او دافغانستان داسلامي دولت په رسمیت دپیژندلو په اړه له بهانو او پلمو څخه کار اخلي، په الجزائر کي یي دیموکراسي، بشري حقونه او انساني آزادي ولي هیري کړي دي ؟ هلته یي ولی یو ظالم او مستبد فوځي رژیم په رسمیت پیژندلي دي؟ ولي یي دملت په مړیکی داستبداد ګوتهي وراچیي دي؟ دغربي هیوادونو او ملګرو ملتونو دمؤسسي دغه دوه مخي پالیسي ددوي له منافقت نه پرته بل هیڅ مفهوم نه لري.

مفهوم عبادات در اسلام

تتبع ونګارش «مولانا زاده»

پیوسته به ګذشته

از همین سبب اسلام اجازه نمیدهد که ګروه یا طبقه، خاصي بر ګروه دیګري حاکمیت داشته باشد در اسلام نه طبقه مدار اعتبار است ونه ګروه بندیها ودسته بندیها، بلکه تقوي و سلوك انساني اساس ومعیار عالي فضیلت میباشد. اسلام ما بر ضمیر انساني اعتماد دارد، لذا به ترسانیدن وزور بر چه بر افراد عمل نمیکند، اسلام ما به ترس از خدا اعتماد مینماید، بهمین وجه ترس وهراس در اسلام این نیست که یك ګروه ویا دسته برګروه ودسته دیګري یا قومي بر قوم دیګري تعدي وتجاوز کند چیز هاي وارده از شرق وغرب سکه، قلبي است سکه وعده، فریب آنرا میخورند واما اسلام ما زرناب وطلاي احمر است که هیچګاه قیمت وارزش آن کم وکاست نمیګردد. با وصف اینهمه ما ناګزیریم که دامن اسلام را از آن داغهاي سیاه پاك کنیم که از طریق فهم باطل بر آن زده شده وبګوئیم تا اسلام را بشکل واقعي آن به نشر عرضه داریم برما لازم وضرور است که اسلام را بشکل خودش وصورت واقعي آن در سیستم زندګي عرضه وتطبیق کنیم تا آنکه تحت حاجات وضروریات ما برآن اکمال یابد وبعد ترویج ګردد وعموم بشریت از آن مستفید ګردد.

الله تبارك وتعالی میفرمایند: (بلا شك وتردید آن مومناني که بر خدا ورسول او ایمان دارند وشلهونردیدي در قلوب شان راه نیافته وبمال ونفس خود در راه دین خدا کوشش کرده اند ایشان در دعواي ایمان داشتن شان صادق وراستکارند). ما از برکت اسلام امتي هستیم که بخاطري خلق شده ایم تا بمردم خیر برسانیم وصضدر نیکوئي ګردیم، در امور نیك بمردم هدایت دهیم واز امور ناجائز ایشان را منع نمائیم ما معتقدیم که اختیار دارما، دوست وولي ما خدا ورسول خدا وبرادران مومن ما هستند چنانچه خداوند میفرماید: (دوست شما خدا ورسول وآن کساني میباشند که نماز را برپامیدارند زکات را ادا مینمایند وبخدا مطیع ومنقادوند وهر آنکه خدا ورسولش را با مومنان بدوستي برګزید شامل حزب خدا وغالب وپیروزند).

اسلام وحقوق انسان

بعد از جنګ اول جهاني ۱۹۱٤ - ۱۹۱۹م عمده، به صفت هیئات بین الدول تعیین وانتخاب شدند تا نقطه، ضعف (سر) دولتهاي مغلوب ومسخر را معلوم ومرام دولتهاي استعماري را بر آورده سازند که السیسه ابتکار را در قرن نزدهم به پایان رسانیدند وسپس بار دیګر عده، بختم جنګ جهاني دوم (۱۹٤٤ - ۱۹٤۷) بنام ملل متحد عرض اندام نمود که حقوق انساني وبشري به این عنوان اعلان نمایند که یك انسان در جامعه بنابر رنګ، ومذهب وعقیده سزاوار اذیت وتکلیف نمي ګردد.

از اثر این دو جنګ جهاني در ضمیر انسان احساس نجات ورهائي فرد وجامعه ضعیف وناتوان را از چنګال زور ګیري فردي واجتماعي بیدار وزنده ګردانید واز تمام این قربانیهاییکه انسانها در دو جنګ جهاني داده بودند محض این نتیجه وخیر را بدست آوردند که بر تفرقه هاي قومي ومذهبي به بین ګردند واما اینکه افراد بشر را باهم چنین مساوي وبرابر سازند که سیاه وسفید باهم در معامله، احساس وتفکر برادر وبرابر ګردند وصاحبان عقاید دیني مختلف را با هم بحیث افراد نوع انساني برادروهم نسازند تا یکي با دیګري دست کمك وباري دهند با وصف خواست ضمیر انساني که در تلاش آن است تا حال کامیاب نشده اند. اسلام به نظریکه بانسان دیده درآن تغییر وتعویض بعمل نیامده وبیانات وتوصیه ایکه کرده تغیر شکل نداده که این تعلیمات اسلامي از این هدایت خداوندي ظاهر وآشکار میشود که میفرماید: (اي مردم از آنخدا ئي بترسید که شمارا از نفس واحدي پیدا کرده وجفت شمار از آن نفس بوجود آورده واز همین جفت مرد وزن بي شماري را انتشار داده است واز آنخدائي بترسید که شما بنام آن یکي از دیګري پرسانها وخواهشهاي میکنید وخداوند مراقبت شما را میکند) وباز میفرماید: (اي مردم ما شمارا از یکزن ومرد آفریدیم وبخاطري قوم قوم وخیل خیل ګردانیدیم که با یکدیګر تان اشنائي پیدا کنید، بیشك به نزد خدا صاحب کرامت کساني اند که بسیار صاحب تقوا میباشند). این نظریه نظریه ایست که مساوات انسانرا با انسان تعبیر میکند وبین زن ومرد از نګاه رنګ وجنس فرقي نمیګذارد چه افراد انساني همه از یك شخص بوجود آمده اند واین امکان ندارد که نفس در طبیعت مختلف داشته باشد، بلکه این نفس طبیعي است که انواع خصوصیات را دارا ست بعض از مرد وبرخي از آن در زن دیده میشود وبه این قسم تمثیل مییابد.

پس اسلام اینرا نخواست که یکفرد را از دیګري در طبیعت جداکند بلکه برعلاوه امتیازش آن امور انساني را انتخاب وتعیین نمود که خصوصیات بشري وانساني در آن تمثیل مییابد وآن تقوا وایماندارى تام وکامل میباشد، بنا بر آن تقوا ان شکل کامل تهذیب انساني است که اسلام الرا وصول هدف بر فرد بشر ګردانده ومردم را در راه رسیدن باین هدف که در کوشش وتلاش بسیار متفاوتند ولي باین هدف بسیار نزدیك ودیګري دور استند تشویق وترغیب میفرماید، هرګاه از مذهب وعقیده بګذري ومرف نظر کنیم بازهم مي بینم که اسلام با مردم غیر مسلمان هم سلوك نیك ومعامله دلخواه ودلبستدي را توصیه میفرماید وشکل تهذیب انساني عمل میکند، (با اهل کتاب تنها در طریقي مجادله کنید که بسیار خوب وپسندیده باشد واګر با ایشان معامله مینمائید هم راه عدل واحسان در پیش ګیرید ودشمني با قومي شما را از عدل منحرف نسازد).

از تطبیق عملي این نظر تاریخ بما چنین خبر میدهد که: حضرت زید بن حارثه (رض) که غلام آزاد کرده، رسول الله (ص) بود، ودر عهد آن رسول پاك در چندین غزوه سر لشکر قواي مسلمانان تعین وانتخاب شده است، وقتیکه مادر اسماء بنت أبي بکر بمنزلش آمد از رسول الله پرسید که چګونه باوي معامله وپیشآمد کند ! رسول الله فرموده اند که: «بانیکوئي وخوبروئي باوي معامله کند وراه احسان را در پیش ګیرید»

(بقیه در شماره اینده)

استاد (!) داهریمن په غیږکي

سهیل ستوری

په زرګونو میندي بوري شوي، خوېندي واري شوي او په زرګونو میرمني کونډي، په زرګونو ماشومان بي پلاره او په زرګونو شاه زلمي ددین او وطن په لاره کي شهیدان شول. دروس غاوره او فرعوني طاقت په افغانستان کي له ماتیدو سره سم په تونه تري کي خړ پړ شو، افغانستان دشهیدانو ثانوني دروس برغلګرو له حلاصون سره سم دخپلو وطني جایرانو او طالبانو په پنجو کي ولوید. په ټول وطن کي دخپلسځي جګړو بدرنګه سیلي والوته ، دعزت پروني یي له سپیر واخستل. دشهیدانو ښکلیان یي په خپرو وهل. دوطن ورونو قومونه چي ټول دخداي او وطن په لاره کي دروس برغل ته په بوه سنګر کی ولاړوو په خپلو کی سره وجنګول. په خپلو کي یي سره دښمنان کړل. په بوه او بل نامه یي ددوي په زړونو کي فاصلي پیدا کړي طالبانو هر یوه ځان لوی فاتح وباله.

ښکلي کابل دوطن زړه یي غوځ غوځ کړ. کله دکابل یوه برخه دیوه فاتح په لاس کي او هغه بله یي دبل فاتح په لاس کي، دي فاتحانو دشوپلو او الوتکو په زور دکابل یوه او بله برخه ونیوه خو دخلکو زړونه یي فتحه نه کړاي شول.

دتیرو شهیدانو کورنۍ یي دتیرو شهیدانو ویرته کښنولي. یو فاتح ځان تاپلیون وباله او هغه بل ځان ګورو تیمور ، وطن یې وتخابي حل شو.

دوطن دعزت لیاره نوي لویي قربانۍته اړتیا پیدا شوه. دلوي احمد شاه بابا په ښارکي دخداي (ج) دشوره ایا ټاټوني پیغمبر (ص) خرقي مبارکي ته دمشر او تیار سلاشرته وشول. طالبانو قران اوربلونه شکل کړل دښي په ځایونو کي یي دطاووس ښکلي کیسودي، کتابونه دالله اکبر په نامه را واخستي. دوطن او دوطن نه دباندي مهاجرو طالبانو دخدایي عسکرو لښکري جوړي کړي. دوي اول دخلکو زړونه فتحه کړل دزړونو له فتحي وروسته یي دښارونو فتحي په نصیب شوي.

اوس دطالبانو اسلامي تحریك کابل (دوطن زړه) هم فتحه کړي دي. دوي زمنه کسري وه چي ددي زړه یوي سوري رګونو بیا هیواد په زخمي وجود نه دستي اوسولي پلي لګوي. اوس تیره طالبانو او په تخت منیشتو یو ناولي اتحاد جوړ کړي او دطالبانو دوړاندي تګ مخه نیسي. خو انشاء الله طالبان به یو مخ ځي ځکه دټول وطن دوړو او زړو دعاګاني ورسره دي.

څو ورځي وړاندي لیږوالو وازیو ګڼو او تلویزیونونو د برهان الدین رباني تیښتي او ددوستم عسکري ته یي زر زوقوني انداز دور لوبلو خبرونه خپاره کړل کله چي برهان الدین رباني دکابل پر تخت ناسته و دوستم یي دخان سره وکیل کړ . دي دوستم دير دوام ونه کړ او په دي دوبرنده چي دوستم یه یي تخته وارووي له ځانه یي لیري کړ. بالاخره ددوستم پر ضد یي دجهاد اعلان وکړ.

اوس چي له رباني نه دغار خوله ورکه شوه او دملت دقهر څپو را په مخه کړ نو په تیښتو سترګوي دروسانو له خوا دجوړ شوي لښکر دمشر دوستم په غیږکي ځان په داسي انداز واچاوه چي له ښتو سترګو ته یي مړي مړي اوښکي بهیدي. لوي خداي (ج) په خپل کتاب قران مجید کي څومره ښکلي فرمایلي دي: (عزت او ذلت دالله جل جلاله په لاس کي دي).

دطالبانو په وړاندي یو دروند مسوولیت پروت دي چه هغه په ټول هیواد کي داسلامي شریعت تطبیق، دسولي تأمین او یوه کلك مرکزي حکومت راوستل دي. درباني، مسعود نیم ژواندي ځوان ته ددوستم روس پلوي ځواك یو څه ژوند ورکړي دي دوي په ګنه دکابل ځوانه دپرمختګ نیت لري. خو طالبان او ددوي سره هغه رښتیني مجاهدین هم ملګري دي چي ددوستم رمي رمي عسکر یي اسیران نیولي او بیا یي رحم پري کړي او آزاد کړي یي وددوي په ګده دخپل وطن دزړه کابل نه چار چاپیره کمر بندونه تاو کړي او کابل دوطن دعزت په خیر ساتي.

ځيني خبري منابع وایي چي په سلګونو سالونکو ځانونه په ځنکلو، کي تیغ کړي ډاو زمنه یي کړي ده چي یو انچ به هم په شانه نه شي.

دوي هغو سرتیرو طالبانو ته چي دبادغیس او میمني پر خواکو چیدلي دي داد ورکړي چه کابل مونږ نه پریږدي، او تاسي له هغي خواڅه پري را تاوشي.، سیاسي مبصرین داسي تبصري کوي چه طالبانو داسي قوي فوځي تاکتیك پلي کړي دي

(٤ مخ)

د شریعت تبصره

افغانان ورورې غواړي او ایرانیان دښمني !!؟

هغه وخت دانحراف لاره غوره کړه کله چي دایران داسلامي انقلاب او اسلامي جمهوریت مؤسس آیت‌الله خمیني وفات شو او دانقلاب داسلامي سفکوري خاوندان دقدرت له مسخني څخه منزوي اوبابي اغزي کړاي شول. ایران داسلامي خط په ځاي اوس دایراني نشنلزم په لاره روان دي. ایراني مسئولین اوس په اسلامي نړي کي داسلامي ورورولي په ځاي دایراني نشنلزم په منحو سوپالیسیو باندي عمل کوي. په اسلامي نړي کی مسلمانان په اسلامي شعارونو باندي غولوي او له هغوي څخه دایراني نشنلزم په ګنه کار اخلي.

هغه وخت چي دافغانستان دمسلمانو مجاهدینو اسلامي جهاد دکمونیستانو او روسانو په مقابل کي دبریالیتوب ورونتي پراونه وهل او دروسانو له سختي ماتي نه وروسته په افغانستان کی دمجاهدینو په لاس دیوه واقعي اسلامي دولت دجوړیدلو ټول شرائط دبشپړتیا په حال کي وو، دایران حکومت ؤو چي په افغانستان کی یي داسلامي دولت دجوړیدلو په خلاف دنجیب له کمونیست او ملحد حکومت سره اړیکي نوري هم ټینګي کړي او دیوه منظم پلان له مخي یي داهل تشیع ډلي هحولي چي دنجیب له حکومت سره دیوه سازش له مخي په یوه سیکولر الحادي دولت کي شاملي شي او په دي توګه په افغانستان کي دیوه واقعي اسلامي دولت مخه ونیسي چي دسني مسلمانانو په لاس په رهبري کیدو او په ریښتني توګه به یي نړي ته داسلام سیاسي، اقتصادي، اجتماعي او عقیدوي نظامو ته په عمل کي وریپژندلي وایي داسلام دعادلانه بین المللي لیکو په رڼا کی به یي داسلامي نړي د یو والي دپاره کار کړي واي او دبشري نړي دهماهنګی دپاره به یي داسلام دمقدس دین دتریوال بشري وحدت عملي اصول وړاندي کړي واي.

هغه وخت چي دنجیب الحادي حکومت دړنګیدو لوبه حال کي ؤ، دایران حکومت ؤ چي دافغانستان دمسلمانو مجاهدینو پر خلاف یي دپرچمیانو، دوستمیانو، شعله یانواو شیعه ګانو یو نامقدس ائتلاف را منځ ته کړ او دناروا سازش له لاري یي په قدرت باندي منګولي خښي کړي حضرت صبغت‌الله مجددي او رباني یي دمسلمانو څیرو په شکل استعمال کړل، عملي قدرت ټول دنا مقدس ائتلاف په لاس کی پاتي شو.

کله چي درباني په حکومت باندي مسلمانانو فشار راوړو چي له روسي او ایراني اجنتانو څخه دځان خلاص کړي او دیوه واقعي اسلامي حکومت دپاره دي کار وکړي دغه پر خلاف یي لومړي شیعه لر کي او بیا روسي اجنتان دوستمیان وجنګول او په دي توګه یي هغه بیرته روسي او ایراني اجنتانو ته په تسلیمیدلو باندي مجبور کړ او په افغانستان کي یي عملاً دیوه اسلامي دولت دجوړیدو مخه ونیوله، او مسلمانانان یي دیوه واقعي اسلامي حکومت څخه مایوسه کړل. هر ځاي ګډوډي، بداسني، بي عزتي او لوټماري دهر یکپانو اصلي دنده وګرزیدله او هیواد له سختي بد مرغی سره مخامخ شو.

کله چي دطالبانو اسلامي تحریك په افغانستان کي دخلکو دسر، مال، او عزت دساتني، او اسلامي جهاد داهدافو دترلاسه کولو دپاره بوځاي بیا دجهاد میدان ته دیوه واقعي اسلامي حکومت دجوړولو او اسلامي شریعت دپلي کولو دپاره راوراټوي شو او په لږ موده کي یي په ۷٥ ٪ افغانستان کي سوله او امنیت تأمین کړ او یو واقعي اسلامي دولت یي په افغانستان کي اعلان او عملي په میدان کي پلي کړ، دایران څښتو مشرانو په ډیر غیر مسئولانه ډول دافغانستان داسلامي دولت داجراآتو مخالفت وکړ او ورپسي یي په سیمه ایزه او بین المللي سطحه دافغانستان داسلامي دولت پر خلاف منفي هلي ځلي پیل کسري دافغانستان داسلامي جهاد دښمنان روس او هندیي له ځانه سره ملګري کړل اود اسلامي حکومت دښمن حواکو ته هغه پرچمیان، دوستمیان، شعله یان او وحدتیان یي بوځل بیا داسلامي دولت پر خلاف سرجمع کړل خو په افغانستان کي دیوه اصیل اسلامي حکومت داستقرار او استحکام مخه ونیسي او په افغانستان کي دلوي جوړشوي اسلامي دولت پښو ته کمزوري کړي داسلامي جهاد او اسلامي حکومت له مخالفینو سره یي دمرستي په خاطر تیره اونی په تهران کي داسلامي

(٤ مخ)

افغانستان جوړ وو

شعر د(لوګري) او انتخاب دطالب العلم محمد اشرف (خسروي)

دسوکالي په لوري ځو نوي جهان جوړ وو
په پاکو وینو دوباره افغانستان جوړ وو
دفساد خونه به کړو ورانه دالله په مرسته
دهمتو نو غیرتونو لوي کاروان جوړوو
دځیلواکي په لوري ځو وړاندي قدم په قدم
د دي وحشت نا بود ولوته ښه پلان جوړوو
دمظلوم اوښکي به کړو پاکي که مو ساوي په تن
سوز و دښمن دځمکي سر ورته نیران جوړوو
کلي په کلي ښار په ښار مو دا ترون کړي دي
هر خوا هر لوري مفسیدینو ته زندان جوړ وو
داریانا له دنګو غرونو پاریدلي یومور
باطل پرستوته نړۍ نه ګورستان جوړوو
سره یوغلګر مو له ټاټوبي نه په تیښته لاړل
په نوکرانو یي شبخون، سیلي توپان جوړوو
ارام به نه کوو ترمرګه دا مو هودکړي دي
دروڼ سبا په لوري دروموبل جهان جوړوو
داسلام سپین بیرغ مو لوړ کړ دنګو غرو په سرو
افغانستان نه به دګلوګلستان جوړ وو
د(لوګري) دا ګرمي اوښکي هیر ولي نشو
استوګنځي نه یي دمیني باغستان جوړ وو

ښکلي عدالت راغي

لاتق أحمد «غزنوي»

دظلم ځاله ړنګه اوس قانون دشریعت راغي
ښکلي عدالت راغي، ښکلي عدالت راغي
ښکلي تحریك دطالبانو، هم دجیدو عالمانو
دالله لار کی په رښتني صداقت راغي
ښکلي عدالت راغي، ښکلي عدالت راغي
ددین دشمعی پتنګانه، دموجوده عصر حوانانه
روان سنګرته یو تر بله اخوت راغي
ښکلي عدالت راغي، ښکلي عدالت راغي
تن په راتك دطالبانو، کوروته وران دظالمانو
هر یو ظالم په عذابونو کی لت پت راغي
ښکلي عدالت راغي، ښکلي عدالت راغي
خوشحال مو زیر کړل مظلومانه، چه مو په دار کړل خون خوارانه
غزنوي وایي د افغان کورته عزت راغي
ښکلي عدالت راغي، ښکلي عدالت راغي

په اخلاص

دحاجي جمعه (بارکزي) دیوان

لار دزړه و زړه ته کیږي په اخلاص
سالکان دي ویوهیږي په اخلاص
خپل مقصود په دو وځاځکو اوښکو مومي
که له سترګو ویهیږي په اخلاص
هغه قول به دخدای په در قبول وي
که وزړه ته ور سیږي په اخلاص
داسي نه چي دیوه حاجت کافي دي
حاجتونه پوره کیږي په اخلاص
ده دځو کلونو لار تر عرش عظیمه
په یوه قدم پریکیږي په اخلاص
دپیرانو بزرګی کی شبه نشته
ولي برخي پیدا کیږي په اخلاص
کاملان مي دباور په میدان باندي
دګومان له پوسته خیژي په اخلاص
د(جمعه) په یقین دین دي که دنیا ده
ددي دواړو پوره کیږي په اخلاص

د ادب ملغلرې

دملت آرزو

مولوي خلیل الرحمن (ستانیزی)

ونکړي طالبه آشنائی ته له پیسو سره — نیك عمل دي کړي دا به شائی له تویو سره
دا شوله ثابته چی خدمت کوي ددین وته — جوړه آرامي شوه مخالف ئی دیدین وته
امن یو قرار شولو قانون دي دقرآن کړلو — شوي یی محبوب او هم خلقوته امین وته
(حب ددنیا مکړه بیا به مغ شی چنجالو سره)
ته ددین وارث یی تړ ابده به داکار کوي — واتي چی قرآن په هغه لاره به رفتار کوي
رب لري حامي دظالمانو ریښي وباسه — شته منافقین به یزرونو ئی تلوار کوي
(دا عمل اجرا کړه شی آشنا به جنتو سره)
واوره اي طالبه دوه دښمن نفس او شیطان لري — علم در سره دي دجهاد ورسره توان لري
ورنکړي موقع چی په تا باندي غالب شي دوي — شوي مقتدر ئی شولم پر قوي ایمان لري
(وړاندي کمیتی کړه مخالف شه دیدو سره)
ولیږه عقبي ته دسبا لپاره زرهم ته — ګیرنشي تلك کښی دشیطان شه با خبرهم ته
وو چی متقي او پرهیزګار داتي مشغول کړلو — لږ شاني وشانه دقیقا وکړه نظر هم ته
(وه به ویني وروره عالمو نه غفلتو سره)
هغه چی مجرم دي کړي کوشش چی در نژدي کړي ځان — کړي خوږي خبري ددوستانو له جملي کړي ځان
برخه ئی اخیستي هنکاري کښی دروسانو وي — غواړي په هر خلاص دتاسو له ضربي کړي ځان
(داد خلیل عرض دي کړئ احتیاط دي میلمنو سره
ونکړي طالبه آشنائي ته دپیسو سره)

سنګر ته په خندا ورځم

نهضت ستانیزی

ځار که ترینه نه شوم ما دویني مجنون مه بولي
وریت که په اورنه شوم ما بلال دیرون مه بولي
زه هغه منصور یمم چی به دارته په خندا ورته
سرمي که دلږته کړ ما مؤمن او پښتون مه بولي
زه هغه افغان یم چی سنګرته په خندا ورځم
سوزم سپیلني یمه مجمرته په خندا ورځم
سر او مال مي دواړه داسلام دپاره وقف دي
ځکه همیشه دجنګ ډګرته په خندا ورځم
زه لکه شاهین په خپل دښمن باندي حملي کوم
ګوره رانه ګوره دزمري په څیر غوټي کوم
زه داریانا ددنګو غرونو قهرمان یمه
شپه اوورځ لګیا یم له باطل سره جګړي کوم
زه داحمد شاه دکور ساتونکي پاسبان یمه
زه دغزنوي او دمیرویس بچی افغان یمه
زه به دالله په لارکی یون په صداقت کوم
زه دځیلي خاوري محافظ او نګهبان یمه
ما خو ځو ځو ځله یرغلګر په ګونډو کړي دي
ګوره او مات مي بیرته له ټاټو بي نه شړلي دي
زه هغه افغان یم چی کمون رانه سر ښکته کړ
اي د (ستانیزي) قلمه تاریښتیا لیکلي دي

[illegible]

ملا اسدالله حنفي

قلمه ولیکه شعرونه شه روان ولیکه
ولیکه ژرشه شجاعت مي دافغان ولیکه
**
زما قلمه وینه توي کړه دادب په ډګر
په حق چلیږه تل تخا کوه دتورو په سر
چی منحرف نشي دځیلي مستقیمي کرښي
دتل لپاره په دښمن کوه ګذار دځنجر
**
زړه داسیا کي متانت دمسلمان ولیکه
ولیکه زر شه شجاعت مي دافغان ولیکه
**
را خو ځوه را پاڅوه په خرب ویدي پرګني
ځیني بي درده بي احساسه او سړي پرګني
چی شي را پورته دباطل په وړاندي منګ وتړي
ځیني غافلي نا خبري او ورې پرګني
**
دخداي پرسته شاړلمو دجنګ داستان ولیکه
ولیکه ژرشه شجاعت مي دافغان ولیکه
**
زما قلمه دومره تاند شه چي جهان راویښ کړې
کلي په کلي ګوټ په ګوټ کي مسلمان راویښ کړې
په خپله ژبه ددښمن په کور لسبي کړه بلي
داستعمار پنجروکي بند ویده زمریان راویښ کړې
**
ګرمو مرچوکي په جهاد ګړه غازیان ولیکه
ولیکه ژرشه شجاعت مي دافغان ولیکه
**
نوره هم ګرمه کانده وینه دافغان رګوکي
دمجاهد او مبارز او مسلمان رګوکي
دغه سره وینه توده کړه انتقام دپاره
دمظلومانو بي وزلانو دجهان رګوکي
**
دکونډو یورو فریادونه اوګریان ولیکه
ولکه ژرشه شجاعت مي دافغان ولیکه
**
لیکه ویاړونه دسنګر دطالبانو لیکه
آه او فریاد دمظلومانو یتیمانو لیکه
پریزده دشکلو شین خالو او دېنګړو خبري
له دي په آخوابیا سلګۍ دغریبانو لیکه
**
دحنیفي قلمه توند شه در مرجان ولیکه
ولیکه ژرشه شجاعت مي دافغان ولیکه

قضاوت وکړي دا ښه دي او که دا ؟

مولوي غلام محمد «مخلص»

دا یوه پوښتنه ده تاسو دواړه خوا ښه پیژني ما چي تاسو نه پوښتنه کړیده چي دا ښه دي او که دا ؟

باید پدي سوال کي ښه دقیق زیر شي او جواب راکړئ چي کوم یو به ښه وي؟

لکه څرنګه چي په قرآن کریم کي الله تعالي فرمایلي دي چي ایا تیاره او رڼا دواړه یو برابر دي؟

ایا پوهان او ناپوهان دواړه یو برابر دي؟

اوس باید وویل شي چي کوم یو له دوي نه ښه دي او که دواړه یو برابر دي؟

زما په فکر او لنډو معلوماتو سره باید عرض وکړم چي د افغانستان جهاد او روسانو ته ماتي ورکول کوم معمولي کارندي دارنګه جهاد به د نړۍ پیدا کیدو او خلقت څخه را پدي خوا نوي شوي چي ګونډي دوسره وړوکي طاقت دي داسي یو لوي طاقت ته ماتي ورکړي چي توله دنیا ترینه ویریږي او په خوف کي ترینه پرته وي که د پیغمبرانو په معجز قوت او الهي نصرت شوي وي نو هغه به د پیغمبرانو معجزه وي اوس خو نبوت ختم دي دا جهاد معجزه هم نه وه نو ثابته شوه چي د یو نیم میلیون شهیدانو د وینو برکت او کرامت ؤ چي روسي طاقت خداي تعالي مات کړ افغانستان لا څه چي نور هغه هیوادونه چي د روسانو د استعمار لاندي ؤو هم خلاص شول. دا د افغانستان د یتیمانو، کونډو رنډو او بیچاره خلکو برکت ؤ او الله تعالي د مظلوماتو ناصر او حامي دي چي هغه لوي ښېر طاقت د خداي تعالي په نصرت وشرمیده او د افغانستان څخه شرمیدلي ووت.

بیا چي کله روسان له افغانستان څخه ووتل نو د ټول جهان اسلام دښمنه خلك و افغانانو خوا ته متوجه شول چي دا یو جهاني طاقت جوړ نه شي ځکه اسلام یو جهاني دین دي او دا به د افغانانو لخوا دیتا ته رسي، توله نړۍ به نیسي او د اسلام دین به په توله دنیا کي منل کیږي نو د ټولي نړۍ اسلام دښمنه خلك راپاڅیدل او د افغانستان د سیاسي او جهادي مشرانو ترمنځ یي نفاق راچاوه او دا افغانستان د سیاسي او جهادي مشرانو پواسطه یي په افغانستان کي جنګونه پیل کړل د حزب او جمعیت ترمنځ جنګونه، د سني او شیعه ترمنځ جنګونه، د پښتون او غیر پښتون ترمنځ جنګونه، د ولایتونو ترمنځ جنګونه، د ولسوالیو او قوماندانانو ترمنځ جنګونه، چور او چپاول، پاټکونه او یرغلونه او داسي نور بیحده فسادونه چي خلك تر پښه ګرګه کوي په افغانستان کي شروع شول.

د رباني تش په نوم اسلامي حکومت کي پوره حلور نیم کاله د افغانستان بیچاره خلك وزوریدل د بیا هجرت کولو او کور او وطن پریښودلو ته مجبور شول د ننګرهار دښتي او د پاکستان دښتي ترینه ډکي شوي دا هجرت د هغه پخواني هجرت څخه چي د روسانو څخه ئی کړي ؤ ډیر بدتر دي ځکه چي دلته دا هجرت د افغانانو خپله ناپوهي او بي کفایتي ده او هغه هجرت د کفر سره مقابله وه په هغه کي ثواب او اجرؤ.

دغه ګډوډي او ظلمونه د چا لخوا راپیښ شول؟

عامل ئی حوك او څه شئ دي؟

حوك مجاهدین د ټوپکیانو په نامه یاد وي او د جهاد نوم ته اخلي او حوك ئی د پاټکیانو په نامه یاد وي چي لاري نیسي او خلك شوکوي او د سرویي لویه لار شاهده نیسي، د استاذ سازنور او انجنیر محمود او د دوي د ملګرو شهادت د همدي خبري دلیل او شاهد دي. جهادي مشرانو او تنظیمي لیډرانو هم سترګي پټي کړي دي د خبیثي دنیا په طمع او د منصب او کرسي په امید ئی دغسي ظالمانو قوماندانانو ته موقع ورکړي وه بلکه هغه قوماندان به خپل لیډر ته خورا ډیر زیات ګران او محبوب ؤ چي ډیر ظلمونه به ئی کړي ؤو چي ډیر قتلونه به ئی کړي ؤ، چور او چپاول به ئی کړلو.

په کابل کي شراب خوري او زنا عامه شوي وه د فحشاؤ رواج د پخوا پشان بلکه لا زیات شوي ؤ د دغي موضوع د اثبات لپاره د مولانا کشاف او مولانا وثیق بیانات کفایت کوي حکه دوي دواړه د رباني د حکومت وزیران ؤو او دوي ته د رباني ټول عملونه معلوم دي تاسو کولي شئ چي نږدي ته د هغوي سره تماس ونیسي حکه چي دي دواړو د وحدت په اخبار کي خپل بیانات ورکړیدي د جهاد نوم لاړ په افغانستان کي د اسلامي او کمونستي نظام فرق نه کیده ستر غربي لباس اغوستي ؤ د وزارت خانو څخه زنا خاني جوړي وي اسلام دښمنه غربیان او شرقیان ټول خوشال ؤو او د شرقي او غربي دښمنانو په واسطه ټوپکیان او پاټکیان هم سره په جنګونو اخته ؤو څه به کیدل خلك ټول حیران ؤو چي څه به کیږي.

همغه ؤو چي د طالبانو اسلامي تحریك پیدا شو دا د الله تعالي لوي فضل رحم او کرم ؤ چي د کندهار څخه شروع شو او ټولو خلکو ورته لبیك ووایه د افغانستان مسلمانانو ته د طالب نوم خوښ او سره سکاري او یل دا چي د رباني د حکومت او د قوماندانانو د ظلمونو څخه خورا ډیر زیات په تنګ راغلي ؤو نو حکه ئی د طالبانو د اسلامي تحریك ملا تړ وکړ، د طالبانو اسلامي تحریك په افغانستان کي د ظالمانو تګر ټول کړ او مفسدان ئی وراك کړل وطن او ملك ئی ارام کړ غله، رهزن، بدمعاش او بي دینه ظالمان ئی وشړل بالآخره د الله تعالي په فضل او نصرت سره د افغانستان مرکز او پایتخت کابل هم فتح شو ټول خلك ارام او خوشال دي. رباني، مسعود، حکمتیار، سیاف د شمال خوا ته وتښتیدل او دوستم ته ئی پناه یووړه اوس کابل د افغانستان دارالخلافه د طالبانو د اسلامي تحریك په لاس کي دي نو تاسو ووائی چي دا ښه دي او که دا ؟

نور جهالت بربردئ حق ته وګورئ چي دا ښه دي او که دا ؟

رباني، حکمتیار او سیاف هغه کسان دي چي د نجیب سره یي په کابل کي خبري نه کولي او ویل به یي چي نجیب د روسانو سري دي او موتر ددي سره خبري نه کوو حکه چي نجیب د یو نیم میلیون افغانانو قاتل دي بیا چي کله روسانو جهادي مشرانو ته بلنه ورکړه چي مسکو ته لاړ شي نو محترم ورور حکمتیار او استاذ سیاف ممانعت وکړ او مسکو ته ئی خپل نمائیده هم ونه لیږه چي لاړ ظي یواځي استاذ رباني چي د مولوي خالص صاحب خبره انحصار طلبه سړي دي د یو ځو کسانو سره روسیه مسکو ته لاړل او د روسانو بلنه ئی ومنله او د روسانو سره ئی خپلي خبري اتري وکړي.

رباني هغه شخصیت دي چي یو وخت ئی دوستم په کابل کي د ریاست جمهوري معاون مقرر کړي ؤو او بیا ئی وریاندي د کفر حکم او جهاد ئی وریاندي اعلان کړ اوس ئی د دوستم په لمن کي ځان اچولي دي په مزار شریف کي ورسره یو ځاي اوسیږي نو تاسو ووائئ چي دا ښه دي او که دا ؟

محترم ورور حکمتیار چه په جهاد کي ئی ځان اول لمبر ښوده او د کابل ته ئی د ګلم جم ملیشه ویستله او د کابل په ښار کي د ګلم جم ملیشي ایسټلو په بهانه د کابل ښار وویشت

او د کابل ښارئی خراب کړ او کله چي د دوستم ګلم جم ملیشه د کابل څخه ووتله نو بیا ئی د رباني او مسعود په مقابل کي د دوستم ګلم جم سره ائتلاف وکړ او څو کاله ئی بیا کابل خراب کړ او بیا ئی د شوراي هم آهنګي په نامه یو ائتلاف جوړ کړ او د رباني او مسعود سره ئی جنګونه وکړل نو تاسو ښه فکر وکړئ چي دا ښه دي او که دا ؟

بیا کله چي په کابل او نورو ښارونو کي بلکه په ټول افغانستان کي د دوي د لاسه ظلمونه، ناروا، وحشت او بربریت شروع شو د افغانستان خلك بلکه د نړۍ ټول مسلمانان خفه او خورا نا امیده شول چي اوس به څه کیږي د دي جنګونو مخه نیول مشکل کار دي خو د الله تعالي په فضل د طالبانو د اسلامي تحریك قوت سیمځ ته راغلي او په افغانستان کي د ظلمونو د مختیوي لپاره ئی هڅه شروع کړه نو اسلام دښمنه خلکو ورته څه توسونه او لقبونه جوړ کړل چا به ورته د پاکستان ملیشه او چا به ورته د خلقیانو جنرالان او چا به ورته د امریکا، پلویان ویل چي د ډیرو پرو پاګندو له امله ډیر خوش باوره خلك هم غولیدل.

اوس چي طالبان کابل ته ورسیدل او د خداي تعالي په فضل او مرسته کابل فتح شو نو ولیدل شو چي له طالبانو نه نور هیڅوك ندي بلکه چي هغه افغاني طالبان دي چي د پاکستان په مدرسو کي سبقونه ویلي دي خپلي مدرسي ئی وترلي او د ګران افغانستان او خپل د پلار او نیکه وطن څخه ئی د ظالمانو د ظلم د ټولولو لپاره افغانستان ته راغلل چي ورځ په ورځ د دوي قوت زیاتیږي او د الله تعالي په نصرت ظالمان محوه کیږي باید وویل شي چي کوم ښه دي دا ښه دي او که دا ؟

کله چي طالبانو کابل فتح کړ نو اول کار چي تر ټولو ضرور ؤ د کمونستانو اجنت او د یو نیم میلیون افغانانو قاتل ئی د الله تعالي په حکم چي په قرآن مجید کي صریح آیت دي چي دارنګه مفسدین دي په تمام محشر کي په داروځړول شي او تر ډیري ورځو پوري دي هلته ځړیدلي وي چي تر څو خلك تري عبرت واخلي دا کار مسعود، رباني، ونکړو ځکه چي دوي د روسانو سره مستقیم روابط لري.

مګر اسلام دښمنه خلك پري خورا ډیر زیات خفه شول او د پرو پاګندو خولي یي وازي کړي چي طالبانو ولي دغه لوي کافر او د روسانو اجنټ کړ او پدار ئی وځړاوه څنګو خلکو غیابي جنازي وکړي او نه پوهیدل چي غیابي جنازه کول د امام ابو حنیفه رح په مذهب بلکل روانده او جواز نلري او بیا یو کمونست چي یو نیم میلیون مسلمانان او افغانان ئی وژلي عجیبه ده او ډیره عجیبه ده چي د یو نیم میلیون مسلمانانو د قاتل جنازه په غیاب کي د مذهب په خلاف کوي او د افغانستان د شهیدانو جنازه نکوي نو دا ښه دي او که دا ؟

اوس چي رباني، سیاف او حکمتیار د شمال ولایتونو پلو ته تښتیدلي دي موږ د دوي پدي غلطۍ ډیر افسوس کوو چي دا خو جهادي مشران ؤو، دا خو د جهادي تنظیمونو امیران ؤو دوي خو ټول عمر په مبارزه او [illegible] کي تیر کړیدي دوي خو ټول علماء دي ولي تیر وتل، وغولیدل، دوکه شول؟

په هر تقدیر زما نظر دا دي چي د طالبانو د اسلامي تحریك مشران او عالیقدر امیر المؤمنین د عمومي عفوي څخه دي کټه واخلي دوي پخپله او د دوي پلویان دي کوشش وکړي خپل ځانونه د منافقانو له ولي څخه راوباسي او خپلو اسلامي ورونو سره دي یو ځاي شي چي تر څو د دوي هغه جهاد ضیت لاړ نه شي او که نه نو بیا به افسوس، ارمان، ندامت، پښیماني کوي فائده به نلري بلکه د دوي ټولو هغه جهادونه چي کړي ئی دي باطل او حبطه به شي او د خداي او د مسلمانانو په نزد به خجل او خاسر وي په پاي کي وایم چي ژوندي دي وي ملا محمد عمر اخند امیر المؤمنین او کامیاب دي وي د طالبانو اسلامي تحریك آمین ثم آمین

په افغانستان کی داسلامی ښوونی اوروزنی دمرکزونو تاریخی سیر

لیکوال: س.م.د «هاشمی»

١- دهوتکیانو دوره
(١١١٩- ١١٥٠ هـ)

په لسمه هجري پیړۍ کي دهرات تیموري دولت له یوي خوا دخپل منځي اختلافاتو او شخړو او دبلي خوا دبهرنیو یرغلونو په نتیجه کي را نسکور شو له دي سقوط سره علمي او فرهنګي بهیر هم له رکود سره مخامخ او را منځ ته شوي تمدن له منځه یوړل شول.

دبهرنیو یرغلونو په نتیجه کي زموږ هیواد دوخت ددریو سترو ځواکونو تر منځ وویشل شو لودیځي خواوي دایراني صفوي حکومت، شمالي خواوي دماوراالنهر دازبکانو او ختیځي خواوي دبابریانو (هندي مغلو) په لاس ورغلي دافغانستان مشهور ښارونه لکه هرات، بلخ او نور چي ددیني علومو او نورو فنونو او هنرونو دزده کړي لوي مرکزونه وو خپل علمي او تعلیمي ارزښت یي له لاسه ورکړ او پر ځاي یي ثمر قند، دبلي، اګره، او اصفهان دعلم او فرهنګ او ثقافت مرکزونه شول.

عالمان ادیبان او خطاطان او دنورو هنرونو خاوندان هم په خپله او یا په زور او جبر دغو مرکزونو ته یوتلل شول. لنده دا چي زموږ هیواد یو حل بیا په کند والو بدل او علمي او ثقافتي حوالد یي له لاسه ورکړ، دي وضعي تقریبا دوه پیړۍ دوام وکړ ددولسمي هجري پیړۍ په لومړیو (١١١٩) هجري کال دمیرویس خان نیکه په مشري په قندهار کي یو ملي افغاني حکومت جوړ شو، ددي حکومت په جوړیدو سره یوحل بیا زموږ په هیواد کي دعلم، ثقافت، او فرهنګ زړي په زرغونیدو شول.

سره له دي چه په دغه دوره کي زموږ هیواد له یو لړ بحرانونو سره مخامخ وو، بیا هم دعلومو او فنونو زده کړي ته دقدر ور کاروته وشول، میرویس خان نیکه په خپله هم عالم او فاضل سړي وو، ډیر عالمان او فاضلان بي په خپل دربار کي را ټول کړي وو، تر میرویس خان نیکه وروسته دهغه داولادي په حانګړي توګه شاه حسین هوتك په دوره کي دعلم او فرهنګ دپراختیا او پر مختیا لوي مرکز شو، ددي دوري په نامتو دیني عالمانو کي دبیلګي په توګه ملا پیر محمد هوتك، چه په پیر افغان مشهور او دافضل الطریق په نوم یو کتاب یي هم لیکلي، عبدالرحیم هوتك، ملا زعفران هوتك، محمد هوتك، د(پټي خزانې مؤلف) ربدي خان مهمند ملا نور محمد غلجي د(نافع المسلمین مؤلف) ملا آکبر، ملا عادل، ملا بابر، او نورو نومونه یادولی شو.

٢- د درانیانو دوره
(کال ١١٦٠-١٢٤٥ هجري)

دعلم او فرهنګ دپرمختلك بهیر دنادر افشار دتاړاکونو له امله زیانمن شو، کندهار دیو څه وخت له پاره خپل مرکزي حیثیت له لاسه ورکړ، خو بیا وروسته چي دلوي احمد شاه بابا په لاس (١١٦٠ هجري کال) دیو ځواکمن افغاني دولت بنسټ کیښودل شو، کندهار یو ځل بیا دعلم، ثقافت او تمدن لوي مرکز شو. احمد شاه بابا یو پوه، عالم، فاضل او مدبر شخصیت و ډیر عالمان، او فاضلان او دعلومو او فنونو ماهران بي خپل دربار ته راټول کړل ډیري علمي کورنۍ بي دوړلي چي هري یوي دهیواد دخلکو په علمي روزنه او پالنه کي دقدر وړکارونه سرته رسولي دي، دبیلګي په توګه دکندهار د بارکزیانو دحابعلوم کورنۍ چي دافغانستان تر خپلواکۍ (١٩١٩ع) پوري دقاضي القضات منصب په دي کورنۍ پوري اړه درلوده، ملا سعید بارکزي دشاه محمود سدوزي او قاضي عبد الرحمن دامیر شیر علي خان ددوري قاضي القضات و. ددغي کورنۍ غړو ددیني علومو په برخه کي ډیر کتابونه هم لیکلي دي دملا اسماعیل الکوزي کورنۍ هم داحمد شاه بابا په وخت په کندهار کي اوسیدله، دنوموړي زوي ملا حمد چي دبیان الواقیه، لطایف صوفیة او تعلیم سلوك رسالي بي لیکلي، دکندهار دښار قاضي و.

دمخدومانو کورنۍ چي په احمد شاهي دوره کي هرات کي اوسیدله، یوه روحاني کورنۍ وه ددي کورنۍ یو غړي علامه میرزا احمد شاه بابا هرات ته راوستي او دبالاحصار مدرسي سر مدرس بي ټاکلي و. په وروستنه وختونو کي ملا عبد الاحد خلیفه، ملامحمد عمر، ملامحمد رفیق، مشرف خلیفه او محمد حسین په دي کورنۍ لوي لوي عالمان تیر شوي دي.

دمجددیانو کورنۍ چي یوه عالمه او روحاني کورنۍ وه، داحمد شاه بابا په وخت کي له هندوستان څخه افغانستان ته راغله. ددي کورنۍ د عالمانو او فاضلانو له ولي څخه دشاه غلام محي الدین مجددي شاه نظام الدین مجددي، شاه عزت الله مجددي، شاه عبد الباقي مجددي، شاه غلام نبي او نورو نومونه دبیلګي په توګه یادوو چي زیاترو یي دیني کتابونه هم لکیلي دي.

دشیخ سعد الدین احمد انصاري یوه بله عالمه او روحاني کورنۍ وه چي په دغه دوره کي په کندهار کي اوسیدله دتاریخ مختصر افغانستان مؤلف دنوموړي دآثارو شمیره (٤٣) ښودلي ده.

دوکیل الدوله عبد الله خان کورنۍ هم ددي دوري یوه علم پالونکي کورنۍ وه چي په علمي او پوهني ډګرونو کي یي دقدر وړ خدمتونه کړي دي.

پر دغو علمي کورنیو بر سیره ددي دوري دعالمانو او پوهانو په ډله کي دبیلګي په توګه دمیا فقیر الله ننګرهاري، ملا محمد غوث، مولوي محمد ابراهیم، پیر محمد کاکړ، ملا فیض الله دولت شاهي داحمد شاهي شاهنامي مؤلف حافظ مرغزي او نور یادولي شو.

(٤) مخ

مردم مسلمان ولسوالی برکی برك ولایت لوگر مداخلات اجنبي را در امور داخلی ما تقبیح کردند

علما، روحانیون، موسفیدان، بزرگان و شاگردان مکاتب و اقوام مختلفه، ولسوالی برکی برك ولایت لوگر طی جلسه، باشکوهي تجاوزات و مداخلات کشور هاي هند، روسیه و ایران را در امور داخلي کشور ما محکوم نموده حمایت قاطع شانرا از تحریك اسلامی طلبا، افغانستان اعلام داشتند. خبر نگار آژانس اطلاعاتي باختر گذارش میدهد در محفلیکه به همین مناسبت در لیسه شهدای برکی برك برگزار گردیده بود ابتدا آیت چند از کلام الله مجید قرائت گردید سپس مولوی میرزا، مولوی محمد منور، مولوی محمد غوث، مولوی دلاور، مولوی سید جمال، ملا مشر، عالم و قاري عبدالواحد و محمد نبی از اقوام مختلف صحبت نموده مداخلات خارجی را در امور داخلی کشور که باعث کشتار و ویراني بیشتر این سرزمین میشود به شدت محکوم نموده، عاملین شر و فساد را که بدستور روسیه علیه مردم مسلمان افغانستان جنگ را ادامه میدهند مباح الدم و واجب القتل شمردند.

در ختم جلسه قطع نامه، جلسه به اتفاق آرا، تأیید قطع فوری مداخلات و تجاوزات ممالك روسیه، هند و ایران در امور داخلی کشور ما تقاضا گردیده، همچنان در این محفل ملا محمد وزیر ولسوال برکی برك پیرامون اهداف و برنامه هاي تحریك اسلامی طلبا، افغانستان صحبت کرده در رابطه به مشکلات و پرابلم ها وعده، هر نوع همکاری را به اهالي آنجا سپردند.

دكابل شریعت غر ...

خوا دهغي دفعالولو لپاره یو نیم زر میلیونه افغاني منظوري شوي وي، خو هغه بیسي ددي پر حاي چې ددستګاه په ترمیم ولګیږي دمسولینو شخصي جیبونو ته پریوتي وي.

زموږ خبریال زیاتوي چې اوس ددغي نشراتي دستګاه په ترمیم باندي ایله دوه میلیونه افغاني ولګیدي او په عادي توګه یې خپلي خپروني پیل کړي.

اوس ددغي دستګاه په واسطه خپریدونکي پروګرامونه په ټولو ګاونډیو هیوادونو او دنړۍ په نورو سیمو کي په اساني سره اوریدل کیږي.

دطالبانو له اسلامي...

محترم متقي وویل: دیر ژر به په شمال کي اسلامي دولت ددوستم په مقابل کي دیر بریالیتوبونو تر لاسه کړي.

او مور ددوستم په خلاف جهاد اعلان کړیدي.

نوموړي څرګنده کړه: دشمال زیاتره قوماندانان داسلامي دولت له مجاهدینو سره لاس لري او په دیر ژر به دطالبانو له اسلامي تحریك سره دمرستي او حمایې له امله په دغه سیمه کي ستر پاخون وشي او جنرال دوستم به پخپل انجام ورسوي.

ده وویل: که چیري مسعود او دوستم په کابل حمله وکړي نو اسلامي دولت به مجبور شي چې ددوي په سیمو کي حملي پیل کړي.

استاد (!) داهریمن...

چه دیر بري ورسره ترلي دي. مبصرین وایي چه دوي به فاریاب ته لاړ شي او له فاریاب نه به جوزجان ته راشي او له جوزجان وروسته به دمخي جان زیارت کوي او بیا به که خبره وي ددوستم سره وروستي خبري کوي.

دي پیسو او دي پر محتګونو دوستم وار خطا کړي او اوس پر کابل دالوتکو بریدونه کوي. دا بریدونه دمسعود له خبري نه پرته کوي او دخلکو دکرکي وړس ګرځوي. حکه اوس چې دکابل یې دفاع خلك ددوستم په الوتکو دزل کیږي مسعود سم تیم وورسره دي.

اوس چې دوستم او مسعود په ګډه دکابل ددفاع خطونه نه شي ماتولی نو که ددوستم لښکر تري لیم شي دمزار او جوزجان حواله تري وکوچیږي نو دمسعود دفوځ یو څه تاوده شوي زړونه به بیرته ساړه کیږي.

وایي چا چې زړه : بایله هغه جنګ هم بایلي.

دشلتان دره...

خپل کنترول لاندي راوستي دي.

ده وویل: چې دطالبانو قواوو نه په دي سیمو کي یو هاوان، دري زیکو یك او نوري وسلي او هم دوسلو ډك ګادي چې دمخالفینو دوار خطایي له امله پریښي وه په لاس ورغلي دي.

دننګرهار ولایت سرپرستیال زیاته کړه طالبان به په دي اوږدو سیمو کي نورهم وړاندي لاړشي تر څو دمخالفینو قوت بیخي ختم کړي.

ده څرګنده کړه چې دبخواني قوماندان حضرت علي افرادو په دره، نورکي ځیني سنګرونه را پیدا کړي وي خو اوس دغه سنګرونه په فضل دخداي له منځه تللي دي.

افغانان وروري غواري او ...

جهاد او افغانستان ددبښمنانو غوښتنه را ویلله چې په هغي کي یې پر سیمه یې غرځنه هیوادونه هم دعوت کړي ژو څو دخپل سلطنت جبهه وړباندي پراخه کړي.

په افغانستان کي داسلامي حکومت پر خلاف دایران په حکومت کي دمنحرفو عناصرو دغه منفي هلي ځلي یواځي تر سیاسي او مالي مرستو پوري منحصري نه دي، بلکي دافغانستان دخلکو او اسلامي حکومت له دبښمنانو سره نظامي مرستي هم کوي، دجګړي دپاره یې هڅوي جبهاتو ته یې په الوتکو او موټروکي رسوي اوحتی خپله ایراني پاسداران په جګړه کي تیغ په تیغه په بغاوتونو کي برخه اخلي.

له بده مرغه دایران حکومت دغه نامعقوله او غیر اسلامي پالیسي په داسي حال کي خپله کړي ده چې دافغانستان مسلمان ملت، داسلامي جهاد مشرانو، او اسلامي دولت مسئولینو دتل دپاره دوي ته داسلامي ورورولي لاسونه اوږده کړي دي. خو دوي یې په ځواب کي ددبښمني دریځ خپل کړي دي، په ځانګړي توګه دطالبانو داسلامي تحریك مشرانو دتحریك له پیل څخه تراوسه په هره موقع کي دایران دحکومت په اړه داسلامي ورور ولي څرګندوني کړي دي، او داسلامي ورور ولي په اساس یې ښو اړیکو غوښتنه کړي ده، خو دایران دحکومت ځواب دتل پاره منفي پاتي شوي دي چې دا کار په بشپړه توګه داسلامي اخلاقو منافي، دښه ګاونډي توب داصولو او بین المللي قوانینو د روحیې پر خلاف بد ترین عمل دي چې دایران حکومت باید ورڅخه ډډه وکړي او که نه نو دافغانستان اوایران ترمنځ دحالاتو دخرابولو هر ډول مسئولیت به خپله دایران دحکومت په غاړه وي.

په افغانستان کي ښووني او روزني ...

داحمد شاه بابا له وفات څخه وروسته دهغه دزوي تیمور شاه دراني (۱۱۸٦-۱۲۰۷هجري) په زمانه کي هم دعلمي، ثقافتي پر مخ تګ لړي دیخوا په شان په چټکي سره روانه وه، دده په وخت کي چې پایتخت له کندهار څخه کابل ته ولیږدیده، په کابل کي هم لوي ثقافتي او علمي مرکزونه جوړ شول. پر دي بر سیره هرات، جلال اباد او پیښور هم په دغه وخت کي لوي علمي او فرهنګي مرکزونه شول. تیمور شاه دخپل پلار دوخت علمي او روحاني کورني وپاللي او نور عالمان او پوهان یې هم په خپل دربار کي را ټول کړل، دده دربار له مشهورو عالمانو څخه ،یلګي په توګه دقاضي فیض الله، مولوي اسماعیل، ملا زلي، مولوي دین محمد، مولوي یار محمد، مولانا خیرالدین، صدر العلما، مولانا عبداللطیف (۱۱۵۹هجري مړ)، مولوي محمد عمر ساکزي،(۱۲۰۵هجري مړ)، سعدالله خروټی (۱۲۰۹هجري مړ)، او نور یادولي شو.

دتیمور شاه له مړیني (۱۲۰۷هجري) وروسته دهغه دزامنو تر منځ دتخت او پاچاهي پر سر شخړو او اختلافونو دغه علمي، فرهنګي او ثقافتي بهیر څه نا څه له رکود او سقوط سره مخامخ کړ. که څه هم دتیمور شاه زامن په ځانګړي توګه شاه زمان، شاه محمود، شاه شجاع، فیروز الدین، کامران دشاه محمود ځوي، چې دافشداد پر سر یې اختلافونه او جګړي کولي هم عالمان وو، په خپلو دربارونو کي یې عالمان او فاضلان پالل، خودا چې کورنیو جګړو ټول هیواد داور تیې ګر ځولي و، دعلم، ثقافت پر مختګ ته هیڅ ډول زمینه نه برابریدله، ددي دوري له نومیالیو عالمانو څخه دبیلګي په توګه ملا محمد سعید بارکزي (دشاه محمود دراني قاضي القضات) مولوي حبیب الله چې په محقق سره مشهور و، قاضي محمد سعید خانعلوم، ملا عبدالأحد سلجوقي، شاه فضل الله، مولوي محمد أعظم (دغرني دشولګري)، قاضي ملا عبدالله، مولوي عبدالحق خروټي (دیاقوت السیر مولف) رحمت داوي، ملا شمس الدین کاکړ او نور. (٤)

ایران آشکارا همکاري به مخالفین دولت اسلامي آغاز کرد این کشور خاك خودرا در اختیار افراد اداره معزول گذاشت

حکومت ایران به صورت آشکار در معرکه با دولت اسلامي افغانستان به همکاري مخالفین و دولت برکنار شده شتافت. طبق اطلاع (اي، تي، پي) ایران خاك خویش را در اختیار افراد حکومت معزول رباني گذاشته است تا علیه مجاهدین اسلامي از آن استفاده نماید.

در خبر تذکر رفته که ایران به افراد اسمعیل خان اسلحه معاصر ولباس نظامي تهیه نموده آنانرا توسط طیارات دوستم از خاك خویش به میدان میمنه انتقال میدهند. (اي، تي، پي) خبر میدهد ایران میخواهد از طریق کمك هاي نظامي وآغاز جنگ در هرات مجاهدین اسلامي را در هرات مصروف سازند تا کابل را از دست بدهند.

کنفرانس هایکه به خاطر مقاصد خاص سیاسي تدویر میگردد نتیجه مطلوب ندارد

نشست تهران نظر مغرضانهٔ ایران را بر ملا ساخت

صاحب نظران افغاني

چند روز قبل کنفرانسی به ارتباط قضیه افغانستان در تهران دایر گردید. خبرنگار جریده شریعت در مورد کنفرانس مذکور با چند تن از هموطنان ما مصاحبه اي به عمل آورده ونظریات آنانرا اخذ کرده است.

محترم عبدالرحمن قاضي زاده، سابق قاضي ناحیه چارم شهر کابل گفت: ایران همواره در مسایل افغانستان مداخله نموده وبحران را دربن کشور دامن میزند. من تدویر کنفرانس تهران را مداخله صریح ایران در امور افغانستان تلقي مینمایم این نوع نشست ها وکنفرانس ها که به خاطر تامین منافع سیاسي یك عده کشورها دایر میگردد به هیچ صورت مشکلات ما را مرفوع نمی سازد ودر حل بحران افغانستان هیچ نوع کمك کرده نمیتواند بلکه آنرا مغلقتر میسازد.

موصوف علاوه کرد: کنفرانس تهران مقاصد بد خورهانه، حکومت ایران را در مورد افغانستان و تحریك اسلامي طالبان که اساس دولت واقعاً اسلامي را گذاشته است، برملا ساخت.

محترم عبدالصمد هوشمند سابق آمر کورس اکسنت که خواهر زاده مرحوم موسی شفیق میباشد در مورد چنین اظهار نظر کرد: به جاي آنکه جهت حل موضوع افغانستان وتأمین صلح، در کشورهاي خارجي کنفرانس دایر میگردد باید نخست در داخل مملکت ما امنیت تام تأمین گردد چنانچه با استقرار دولت اسلامي بدست تحریك اسلامي طالبان در جهت تحقق این عامول بکار ومبارزه خویش را آغاز کرده است.

نامبرده افزود: کسانیکه درمورد افغانستان در خارج کنفرانس تدویر مینماید، آنان به نیشه هاي شراب مست اند هر روزیکه در افغانستان خون ها میریزد احساس آنانرا جریحه دارد نمیسازد. افغانستان خانه امید تمام افغانهاست ما به هیچ کس اجازه نمي دهیم که با وحدت ملي افغانستان وجهاد اسلامي ما بازي نماید وبه بهانه هاي دایر کردن کنفرانس ها کوشش هاي را که در راه تطبیق شریعت اسلامي آغاز گردیده خدشه دار سازد.

محترم نور آقا سمیعي در مورد کنفرانس تهران اظهار داشت: این چندمین بار است که ایران میزبان کنفرانس ها در مورد بحران افغانستان وحل مساله این کشور است. این نوع کنفرانس ها محض ضیاع وقت بوده وهیچگونه ثمره، مطلوب از آن بدست نیامده است. کنفرانس اخیر تهران نیز ازهمینگونه کنفرانس ها میباشد که مشکل افغانستان راحل کرده نمیتواند. کنفرانس تهران فقط یا تصویب چند ماده که ساخته، نقش آن غیر عملي است پایان یافت. دربن کنفرانس الی اصلاً چند کشور دعوت شده بودند پاکستان، عربستان سعودي، وافغانستان اشتراك نه کرده که این خود عدم مؤثریت کنفرانس را تائید مینماید. نامبرده افزود: تدویر چنین کنفرانس ها که به خاطر مقاصد خاص سیاسي برگزار میگردد نتیجه، مطلوب ندارد. [illegible] وساعي آکثر کشورهاي همسایه واسلامي باید بخاطر رفع بحران وتأمین آرامش نیز تاسیري در کشور تأمین گردد.

یك نطاق دوستم گفته است:

نسبت عدم اعتماد مسعود افراد خویش را با افراد دوستم در یك سنگر توظیف نمیکند

باوجود اتحاد نظامي میان جنرال دوستم ومسعود تا حال چنان اثراتي مشاهده نمیگردد که این توافق موفقیتي بدست آورده باشد.

در شمال کابل افراد این دو متحد ورجبهات مختلف علیه مجاهدین دولت اسلامي مي جنگند.

یك قوماندان أحمد شاه مسعود وگفته است که افراد دوستم دربن منطقه ناپلد هستند ونمي توانند پیشرفت نظامي نمایند.

امکانات عدم موفقیت اتحاد دوستم ومسعود ازین جهت نیز کم است که آنها تاهمین اواخر تشنه خون هاي یکدیگر بودند وهر یك از جانب مقابل کشته داده اند.

باوجود یك جاشدن رهبران شان قلب هاي افراد عادي شان نسبت یك دیگر صفا نه گردیده است.

یك نطاق دوستم گفته است که کابل را نمیتوان به زور گرفت یگانه راه گرفتن آن اینست که کابل غیر نظامي اعلان گردد. مبصرین میگویند دوستم ومسعود بر یکدیگر اعتماد کامل ندارند واز همین جهت است که مسعود در شمال کابل افراد خویش را با افراد دوستم در یك سنگر توظیف نمي نماید.

به گفته مبصرین: دوستم با مسعود از لحاظ مجبوریت اتحاد بسته است ولي میخواهد که از افراد مسعود شدن [illegible] در برابر مجاهدین اسلامي با به صراط شریف وارد نگردند.

دوستم ومسعود هر کدام محض بخاطر منافع خویش با هم متحد شده اند.

دهرات مسلمان او ...

کي دجمعې دلمانځه په وخت کي دمولوي عبدالعزیز په خبلو خبرو کي وویل: دهرات مسلمانان او مجاهد ولس دملحدینو په وړاندي په یوه ورځ ٢٤ زره شهیدان ورکړل، نو اوس هم دملحدینو او مفسدینو په وړاندي دي قرباني ته تیار دي چې دژونه تر وروستي سلګي دطالبانو دزړورو مجاهدینو تر څنګ خپل زوا جهادته ادامه ورکړي.

مولوي صاحب دخپرو په یوه بله برخه کي وویل دشمال ائتلاف دروسانو په هدایت جوړ شوي او په افغانستان کي دروسانو دیل تیري پیل او اغاز دي، خو موږ [illegible] شړل شوي او ټکول شوي روسي دښمنانو ته ور په زړه کوو چې له تیري ماتي څخه عبرت واخلي او زموږ په هیواد کي له لاسوهنې ډډه وکړي.

دغه راز مولوي صاحب وړاندي زیاته کړه: دایران حکومت په افغانستان کي دطالبانو په لاس جوړ شوي منوجه اسلامي حکومت نشي بر داشت کولي او هڅه کوي چې په افغانستان کي دشر او شدت فضا رامنځ ته کړي تر څوګار هغه یانې لاس چې افغانستان څخه تیریږي خپلي خاوري ته انتقال او ګنډه یې خپل هیواد ته ولیږد وي.

حملات بزرك دشمن...

به حواله آژانس اسلامي افغان مجاهدین دولت اسلامي حمله افراد چپاولگر وغارتگر را در دره، نور که در شصت کیلو متري شمال جلال آباد واقع است خنثي کرده است. مخالفین در دره، شلتان تحت ضربات شدید قرار دارد.

مجاهدین اسلامي درین جنگ توسط هلیکوپترها بر مخالفین حمله کرده است.

به اساس گزارش هاي رسیده در جنگ جاري شمال کابل شدت به عمل آمده است.

اطلاعات حاکست تلاش افراد حکومت بر کنار شده در منطقه تحت تصرفش غرض بدست آوردن دو دره مهم باناکامي مواجه شده است.

گفته میشود که در ۲۵ کیلو متري شهر کابل در یك دوره گلوله باري شدید توپ خانه جریان داشت، دربن دوره میان نیروهاي دولت اسلامي ومخالفین جنگ هاي شدیدي از چند روز به این طرف ادامه دارد.

از جانب دیگر در محاذ سراك جدید مخالفین به اشتراك افراد دوستم در جنگ با مجاهدین دولت اسلامي سهم میگیرند.

ددوستم یوه جت...

تصدیق کړي او وي ویل چي دجت الوتکي پیلوټ داور په لمبو کي وسوځید.

دکابل رادیو په قول دي الوتکي دبنجشنبي په ورځ دکابل ښار په اوسیدونکو بمباري کوله نه دي امله څلور ماشومان په شهادت هم ورسیدل.

خبر [illegible]

داشتند، سپس محترم منقي در قبال تعهد، اعلام همکاري مردم ولسوالي هاي ولایت پکتیا ابراز قدرداني نموده وظایف و مکلفیت هاي علما، را در جهت دفاع از تمامیت ارضي و استقلال ملي در کشور مشخص نمود.

میدهد که در طی چنین ملاقات نخست تني چند از علما، و بزرگان مراتب تهنیت و مبارك باد خود را در رابطه به موفقیت هاي اخیر طالبان اظهار داشته بمنظور تأمین صلح و امنیت و تحکیم نظام اسلامي در کشور همکاري هاي همه جانبه، خود را اعلام

برخي از علماي کنړ...

فساد اظهار داشتند. در خاتمه، دبهار و گفتگو عضو و کفیل شوراي سرپرست دولت اسلامي افغانستان از همبستگي مردم شمال کشور اظهار رضایت و خرسندي نمودند.

په غزني کي...

کوونکو ددوستم او مسعود، حکمتیار پر خلاف شعارونه ورکول. او دافغانستان داسلامي دولت سره یې خپل غرځ ملاتړ څرګند کړ، په پای کي مظاهرینو ددوستم سرهر نه چي اندازه یې په سلیمونو نه رسیده وسوزول.

خبرتیا

پولوهغر جهادي شاعرانوته چې دجهاد اومجاهدینو په ارتباط یې شعرونه اونظمونه لیکلي وي اوپه ځانګړي توګه هغه شاعران چې دطالبانو داسلامي تحریك په ارتباط یې نظمونه اوشعرونه لیکلي وي خبرورکول کیږي چې دژوند لنډ حالاتو اوطالبانو داسلامي تحریك په ارتباط جوړ کړي نظمونه اوشعرونه موږ ته په لاندي پته راولیږي، ترڅو یې دچاپولو لپاره لازم تصامیم ونیول شي.

دخوست ولایت داطلاعاتو اوکلتور ریاست

یادونه

شاپي ستاسو ایمان په اجازه دونکري چې دا ډول سپیڅلي پاڼي په لاره ځایونو کښي ونورځوي.

(اداره)

دګډون بیه شپږ میاشتني	کالني	
پاکستان	Rs.200	Rs.400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا وامریکا	US$75	US$150

کور خود وبینایي مردم

تا جائیکه از آژانس هاي خبر رساني غرب بگوش ما میرسد، مقامات مذهبي دولت جمهوري ایران که دولتمردان آن در دراز مدت چاروانیدي سال جنگهاي داخلي وطن ما افغانستان در حمایت وپشتیباني از یك گروه أقلیت هم مذهب شان ید طولي داشته وآتش جنگهاي خانما نسوزي را بپاس همسایه داري در سر زمین جنگ زده، ما دامن زده اند وسبب وعامل جنایات بي شماري وکشتارهاي وحشیانه گردیدند در این اواخر بر اعمال طالبان این را دمردان بواقع مسلمان ومتعهد بایمان واسلام که اعمال شان طرف تایید قشر خدا پرست افغانستان قرار داشته وبا پیاده کردن احکام الهي وقوانین آسماني واسلامي بساط دزدي چپاول وظلم وفساد را که از دیر زمان بخصوص بختم جهاد کفرشکن (ملحد شکن اشوروي توسعه طلب) متأسفانه دامنگیر جامعه مسلمان ما گردیده بود برچیدند ودستورات وارشادات قرآني جامه، عمل پوشانیدند ودر نتیجه در همه مناطق تحت سلطه شان امن وامان سرتا سري را که همه خواهان ان بودند تأمین وبر قرار گردید، باقطع دست دزدي جلو دزدیها وچپاولگریها را گرفتند، با قتل قاتلي باعث وقایه حیات وزندگي انسانان دیگری گردیدند، با جزاي انسان ناخلف وکجروي ناخلفیها وکجرویها را متوقف ساختند با در پرده داشتن محرمات از نامحرمان که خواست شریعت ومذهب حنفي است در کوتا مدت زمان زعامت وزمامداري شان قدمهاي مثبت ومشروعي برداشتند وبا ارتکاب چنین اعمالي که نزد هر مسلمان آگاه از شریعت وفقه حنفي جامعه را از لوث فساد وفتنه پاك میسازد وجایز شمرده میشود، انگشت انتقاد نا سالم گذاشته وبازبان درازي وياوه گویي که خصلت یاوه سرایان وزبان درازان بي منطق ولا شعور است بر طالبان کرام اتهام بد نام کردن اسلام را میزنند و آیت الله هاي ایراني که از فقه حنفي واحکام شرعي (شریعت اهل سنت وجماعت) بهره، ندارند میگویند که طالبان با اعمال شان دامن پاك اسلام را سیاه میسازند ودرنگ، افعال واعمالي میشوند که در اسلام نیست، !!! هر گاه چنین اتهامات بیمورد که این خود بالذات خلاف رفتاري از شریعت اسلام است بغرض مسموم و رضاي خاطر ملحدان روسي وهم پیمانان هندوي آیت الله ها باشد اعتراضي بر آن نداریم، زیرا ما نمیخواهیم بزرگان شیعه مذهب همسایه قریب خویش را که مداخله در امور داخلي همسایه مسلمان خود شان را جایز میدانند با چنین اتهامات ومداخلات میخواهند سد راه استقرار صلح وامنیت در کشور ما گردند ویا خواستار تشکیل یك دولت واقعاً متعهد به اسلام در کنار وجوار شان نیستند، زیاد منابع شوند چه بر واقع است که مناسب غرض مجنون است وارضاي خاطر ولي نعمت اولي نعمتدر، برجمره حزاران ومزدوران امریست حتمي ولابدي.

در غیر آن البته بر جهانیان وخاصة برادران مسلمان ما در ایران وسایر ممالك اسلامي طرز وشیوه حکومت داري مذهبیان ایراني که باستقرار رژیم ملحدان در افغانستان همزمان بوده وبیش از هفده سال تمام را در بر میگیرد پوشیده نمانده وهر صاحب خرد مسلماني میداند که بنام قیام واستقرار نظام اسلامي مختص بخود شان چه اعمال وافعالي بود که دست نزدند، تاریخ بیاد دارد که تقریبا بیش از صد نفر صاحب منصب عالي رتبه ومسلمان سلطنت محمد رضا پهلوي را بجرم خدمت به سلطنت با بیرحمي تمام در محابس جادادند وبعد به چوبه دار سپردند، حجاب بنام اسلامي را جبرا بر طبقه اناث تحمیل کردند مکاتب ومدارس را در بد وامر تشکیل دولت بستند واخر الامر هر که پرداختند مسلمان ایراني را ولوکه از اهل تشیع بود بجرم مخالفت با رژیم نه تنها در داخل ایران بلکه در بیرون آن مملکت ترور کردند، اعضاي نمایندگیهاي خارجي را که در جوامع اسلامي وغیر اسلامي حیثیت مهمان را داشته ومصئون پنداشته میشوند در محاصره کشیدند وشلاق کاري کردند با مهاجران افغان پناهنده در سرزمین شان که شیعه مذهب نبودند چه رویه وبیشامد ناهنجاري نبود که نکردند وتا حال نمیکنند !!!!

بلي واقعیت وحقیقت را نمیتوان از انظار مردم پنهان کرد ونور آفتاب را نمیشود با دو انگشت پوشانید پس چه بهتر از اینکه کرسي نشینان مذهبي وکنوني مملکت همسایه قریب، هنر وکمال دیگران را عیب جلوه ندهند واعمال اسلامي وشرعي شیفتگان به ماخاسته همسایه مسلمان شان را که قدرتهاي کفري وطاغوتي جهان نام بنیادگرایي افراطي بآن میدهند در حالیکه افراطي بپسند عیب نپندارند دیده به گریبان خویش فروبرند تا نزد همه جهانیان اعم از مسلم وغیر مسلم تروریست جهاني وکشنده وقاتل بیرحم انسانان بیگناه قلمداد نشوند حرفها زیاد است اما پوشیده وبا گفته به، خداوند متعال بزرگان همسایه مسلمان ما را هدایت فرماید تا از مداخلات مغرضانه در امور کشور برادر وهمسایه شان خود داري ورزند.

دبي درکي اعلان

تعلیم دولي جان ځوي دمحمد هاشم وروږ یوه هفته وړاندي په ورو کي له خپل وروږ محمد هاشم څخه بي درکه شوي دي دتعلیم عمر ٢٦ کاله، توره بیره او دمالي تکلیف لري.

که چاته دتعلیم په باره څه معلومات وي په لاندي پته دي معلومات راکړي: میرالشاه دخپلو مارکیټ درسول زمان دوکان او یا دخوست بازار میرزا علي مارکیټ دنور مسلم دوکان.

SHARIAT WEEKLY
Editor-in-Chief : Molvi Ahmad Jan
PAK-RUPE A.C; CD. No.1694-69
Habib Bank LTD. Tehkal Bala Branch
Peshawar Pakistan